# د بګرام بنې ته بدلون ورکول

د افغانانو په لاس د زندانونو د اداره کیدو د رژیم رامنځته کول
او د امریکا د متحده ایالاتو د زنداني کولو د صلاحیت پر سر اختلاف نظر

**د سیمه ییزې پالیسۍ نوښت**
**پرانیستې ټولنې بنیادد پرانیستې ټولنې بنیاد**
**6, 2012 سپټمبر**

OPEN SOCIETY FOUNDATIONS

مقدمه ........ ......................................................................... 3
تاریخچه.............................................................................. ..... 5
میتودولوژي.......................................................................... ......... 7
د بګرام پر زندان اختلاف نظر او د امریکا د متحده ایالاتود زندانونو راتلونکی.......................... ......... 8
د افغانستان د اداری توقیف رامنځته کیدل....................................................... ....... 10
د توقیف لپاره قانوني بنسټ او له اساسي قانون سره مطابقت................................................ 11
د بین الدول موافقتنامې په چوکاټ کې د توقیف معیارونه ................................................ 14
په افغانستان کې توقیف : پاتې کیږي؟............................................................................ 14
د زندانیانو لیږد په عمل کې: د زندانونو د تړون په نظر کې نیولو سره، له متحده ایالاتو څخه افغان زندانونو ته د افغان بندیانو لیږدول............................................................................ 16
د تخنیکي کمیټې کتنې: عدلي تعقیب، بندي کیدنه، یا خوشي کیدنه........................................ 16
د بیاکتنې افغان بورډ : په زندان کې عادلانه چلند ............................................................. 19
*د زنداني کیدو د مودې د اوږدوالي په اړه ناڅرګندتیا* ..... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ...... 21
د کمیسیون له لوري بیا کتنه او د متحده ایالاتو سره مشوره ................................................ 22
*د خوشي کیدو لپاره د بیاکتنې د بورډ د سپارښتنې بیا کتنه* ................................................ 22
د دریم هیواد د اتباعو نا څرګند برخلیک.............................................................. ....... 23
د متحده ایالاتو د زندانیانو د څارنې د پروګرام نشتون......................................................... ....... 25
سپارښتنې............................................................................ ..... 26
افغان دولت ته:................................................................................................................ 26
د امریکا حکومت ته:................................................................................................ 27
د پروان د زندان لیږد:....................................................................... ....... 29
داصطلاحاتو ټولیزه......................................................................... ..... 30
داصطلاحاتو ټولیزه......................................................................... ..... 31

## 1. مقدمه

د 2012 زېږدیز کال د سپټمبر د میاشتې په نهمه نیټنیټهنیټه د لیږد شپږ میاشتنی پروسه بشپړېږي، چې په ترڅ کې یې زرګونه بندیان د امریکا د متحده ایالتونو له پوځي زندانونو څخه افغان حکومت ته سپارل کیږیکیږي او افغان حکومت د پروان د توقیف ځاي (DFIP) چارې په لاس کې اخلي. ډېرې افغانـان دغه لیږد تـه د ادرای توقیف په برخه کې د افغانانو د خپلواکۍ د بیا ژوندي کیدو په سترګه ګوري. که څه هم د د پرانیستي ټولنې بنیاد OSF څیړنې په ډاګه کوي چې د زندانونو په اړه د افغانستان او د امریکا د متحده ایالتونو تر منځ هوکړه لیک، چې د 2012 کـال په مارچ میاشت کې لاسلیک شو، په یو سوء تفاهم باندې پرده اچوي.که څه هم، افغان حکومت غواړي، ددې توافق له مخې به د امریکا د متحدو ایالتونو په وسیله اداری توقیف د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې په نهمه پـای تـه ورسیږي، خو د امریکا متحده ایالتونه لا هم غواړي چې د پروان زنـدان پر یوې برخـې کنټرول او اداره کولـو تـه دوام ورکړئ، چې له امله یې کیدای شي، هغوی خپلو نیونو، ساتلو، او د اټکل وړ مودې لپاره د خلکو زنداني کولو ته دوام ورکړي.

ددې سیاسي اختلاف د جدیت مهمه برخه هغه څه ده چې بنایي په افغانستان کې د امریکا د زندانونو پـه اړه پـه یوه حقیقي میراث بدل شـي: د افغانستان د اداری توقیف رژیم رامنځ تـه کیدل. د امریکـا متحده ایالتونـه لـه څو کلونو راپدېخوا په افغانستان کې لـه اداری توقیفولو نـه کـار اخلـئ، چـې پـه تـرڅ کـې یې بندیان پـه وقـایوی ډول سـره پـه راتلونکی کې د خطرونو د راولاړولو د مخنیوی په موخه د " ضروري امنیتي دلایلو" له مخې زنـداني کیږي، نـه دا چې دوی دی په کوم جرم تورن وي، او یا دې هم محکمه شوی وي. د هغو بنـدیانو د لیږد پروسـې د لا تسـهیل لپاره، کوم چې د امریکایي پوځیانو لخوا اداری توقیف شوي دي، افغان حکومت د اداری توقیفولو لپاره خپل رژیم جوړ کړ، چې د امریکا د متحده ایالتونو له سیستم سره ډېر ورته والی لري. که څـه هم افغـان حکومت زیـات شـمیر بندیان جنایي محکمې ته راجع کړي دي، خو له 50 څخه زیات کسان پرته له کوم جرم یا محکمه کولـو د توقیفولو تر دې نوي واک لاندې له محکمې پرته نیولي دي . لوړ پوړو افغان چارواکو د د پرانیستې ټولنې بنیاد ته ویلي دي، چې هغوی په دې اند دي، چې نوی سیستم د اساسي قانون خلاف دی.

افغانستان تـه د توقیف معرفـي او هغـه پروسـه چـې پـه تـرڅ کـې یـې شـاوخوا 3,100 بنـدیان لیږدول کیږي ، پـه افغانسـتان کـې لـه ډېر کم عامـه او سیاسـي څارنې سره ترسره شـوي دي. د افغانسـتان د توقیف رژیم د پارلمـان د مصوبې له لارې ندی جوړ شوی ، بلکې د یو اړخیز اجرائیوي عمل له لارې رامنځته شوی دی. دغه سند چې د توقیف په برخه کې د کارولو لپاره طرزالعملونه رامنځته کوي ، یو ناخپور شوی " بین الدول موافقتنامه ده " چې " د امریکا له متحده ایالتونو څخه د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د بګرام زندان او څرخي پله زندان د سپارلو او اداري " په نامه یادېږي ( د سپارلو طرزالعمل ) – په مبهم ډول کلمه بندي شوی دی چې په دې برخه کې یې ابهام رامنځته کړی دی چې څوک باید زنداني شي، په کومو ځـایونو کـې بایـد زنـداني شـي، او د څـومره مودې لپـاره بایـد زنداني شي. د لیږلیږد د مراحلو لاندې د توقیف محدوده هم روښانه نده او هغه امکـان یـې خـلاص پریښـی دی، چـې توقیف به هغو زندانیانو ته محدود نه وي چې د بګرام له زندان څخه سپارل کیږي. پر ځـای یـې ، دا ددې لپـاره هم کارول کیدای شي، څو هغه کسان زنداني شي چې د امریکا او افغان ځواکونو په راتلونکو عملیاتو کې نیول کیږي، او بنایي د افغان حکومت لپاره د توقیف په برخه کې په اوږدمهالي محدود واک بدل شي.

که څه هم زیات شمیر افغان چارواکو د پرانیستي ټولنې بنیادڅیرونکو ته ویلي دي چې هغوی په دې اند دي چې د افغانانو زنداني کول به د 2012 کال په سپټمبر میاشت کې پای ته ورسیږي او همدارنګه هغوی ګومـان کـوي چـې د زندانیانو سپارل به بشپړ شي، خو د امریکا د متحده ایالتونو بیانونه او کړنې بیا ددې ښکارندوي نه کوي. امریکـایي ځواکونو د 2012 کال د مارچ په میاشت کې د بندیانو د سپارلو د پروسې له پیله راپدېخوا نږدې 600 زنـدانیان پـه دې توقیف خانه کې اچولي دي. له دې امله، له دې سره سره چې هغوی د هغو 3,100 کسـانو سـپارل بشپړ کړي

دي، کوم چې تر مارچ پورې نیول شوي وو، خو ددې اضافي کسانو نیولو دا دهغوی لپاره ناممکنه کړې ده، ددې زندان په بشپړ سپارلو کې د افغان حکومت توقع پوره کړي.

په حقیقت کې، د پرانیستې تولنې بنیادته دا څرګنه شوې ده چې د دغه موضوعاتو په اړه اختلاف ددې لامل شوې دې چې د متحده ایالاتو د زندان د لیږد پروسه په موقتي ډول سره وځنډول شي، او داسې ښکاري چې د سپارلو او لیږد څخه څو ورځې وړاندې دغه ستونزه هواره شوې ده. د پرانیستې ټولنې بنیادد پرانیستې ټولنې بنیادپه دې پوهیږي چې دغه ځنډ د افغاني چارواکو په منځ کې د زندان د رژیم په اړه د اندیښنې له امله را منځ ته شوې دې- دغه رژیم د متحده ایالاتو د بګرام د زندان د سپارلو لپاره ځکه ډیر اهمیت درلود چې اکثره مهم زندانیان د محکمې کولو لپاره د منلو وړ شواهد نلري.

خپلواکیهمدارنګه داسې ښکاري چې د امریکا متحده ایالتونه غواړیتر څو په افغانستان د توقیف واک ته د 2012 کال د سپتمبر له میاشتې وروسته هم دوام ورکړي، هغه څه چې ټول هغه افغان چارواکي یې ردوي چې ددې تحقیق په ترڅ کې ورسره مرکه شوېده. د ملي امنیت سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا د پرانیستې ټولنې بنیادد پرانیستې ټولنې بنیادته وویل، (( موږ ائتلاف او ملګرو هیوادونو ته اجازه نه شو ورکولی چې دلته توقیف خانې ولري. دا غیر قانوني ده ))[1]

خو ، له هغه روښانه هوکړه لیک سره سره چې د 2012 کال د مارچ په میاشت کې افغانانو ته د بګرام زندان د سپارلو په برخه کې لاسلیک شو، د خپلواکۍ په تمرکز او د هغو زندانیانو په اړه چې د متحدو ایالتونو په نظامي عملیاتو کې نیول شوي دي، د امریکا د متحدو ایالتونو او افغان حکومت تر منځ اختلاف پاتې دی.

افغان چارواکو ته د امریکا لخوا د نیولو شویو زندانیانو د سپارلو د پروسې موخه د حمایت دیوې ځانګړې پروسې نشتوالي، ناکافي شواهدو او په دې اړه د روښانه معیارونو د نشتوالي له امله نیول شوېده چې ایا دغه زندانیان به خوشې شي، محاکمه به شي او یا به توقیف شي. دغه ستونزې د سپارلو لپاره د لنډمهالي – شپږ میاشتنۍ پروسې لخوا لا پسې زیاتې شوې دي. د ملي امنیت په جنایي محکمه کې د محاکمې لپاره د زیات شمیر نویو زندانیانو ناڅاپي راتګ د قضیو د سپیناوې ستونزې لاپسې بدترې کړې او د ظرفیت نشتوالي د اوږدمهاله توقیف او له اړوندې پروسې څخه د سرغړونې خطر زیات کړ.

د دریم هیواد اتباع او یا غیر افغان زندانیان یوه بله او ناحل شوې موضوع راولاړوي. دغه زندانیان به بګرام کې د امریکا په توقیف خانه کې پاتې دي او برخلیک یې معلوم ندی. ددې په پام کې نیولو سره چې تراوسه پورې خپلو هیوادونو ته د هغوی په استولو ، خوشې کولو او بیا تنظیمولو کې پرمختګ ندی شوی، زیات شمیر یې له دې خطر سره مخ دي چې د ګوانتانامو د زندان په شان دیوې نامعلومې مودې لپاره په توقیف کې پاتې شي چې دا کار ددې احتمال رامنځته کوي چې متحده ایالتونه غواړي د سپتمبر په نهمه نیټه د سپارلو د چارو له بشپړېدو وروسته هم لږ تر لږه د بګرام زندان په یوه برخه خپل فعالیت ته دوام ورکړي.
همدارنګه افغان چارواکو ته د نږدې 3,100 بندیانو سپارل ، یعنې هغه څه چې افغان حکومت یې له پخوا په هڅه کې وو، په لوړه بیه تمام شوي دي: د توقیف لپاره د افغانستان نوی رژیم. په داسې حال کې چې زیات شمیر افغان حکومتي چارواکو ویلي دي چې دا رژیم د هغو کسانو د طې مراحل کولو لپاره د یوه لنډمهالي تدبیر په توګه معرفي شوی دی، چې د امریکا لخوا سپارل کیږي او د امنیت لپاره یو ګواښ وي، خو یو شمیر نور بیا وایې، د توقیف په اړه د افغانستان رژیم به په خپل ځای پاتې وي. له دې امله به توقیف یا زنداني کول د جګړې په برخه کې د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې قانوني وي، دا ډول رژیمونه په ښکاره ډول د ناوړه ګټې اخیستو لپاره مساعد دي، په ځانګړې توګه په داسې هیوادونو کې چې له مخکې نه د معافیت په واسطه وران شوي وي او د قانون حاکمیت په کې کمزوری وي. له دې امله، دا د اندیښنې وړ ده، چې په افغانستان کې توقیف منل شوی دی ، او هغه هم په یوه داسې طریقه ، چې رونتیا په کې نشته او ډیری کسان په دې اند دي چې د اساسي قانون خلاف دی.

[1] له ډاکټر رنګین دادفر سپنتا سره د خپلواکه ټولنې د بنسټ مرکه ، کابل ، د سپتمبر دویمه، 2012

# ۲. تاریخچه

د امریکا حکومت د 2002 زېږدیز کال د جنوري په میاشت کې د افغانستان د پروان ولایت د بګرام په هوايي ډګر کې د توقیف عملیات پیل کړل. د ډېرو کلونو لپاره بندیان د بګرام د هوايي ډګر د توقیف په مرکز کې، چې د شوروي اتحاد د الوتکو د ماشینونو تعدیل شوی مرکز وو، ساتل کېدل. په 2009 زېږدیز کال کې ، د امریکا متحدو ایالتونو دغه مرکز ته نږدې یوه اوږدمهاله توقیف خانه جوړه کړه کوم چې په پروان ولایت کې د توقیف د مرکز (DFIP) [ د بګرام زندان] په نامه یادېږي.[2]په بګرام کې د زنداني کسانو شمېر د جګړې له دوام سره سم په ثابت ډول زیات شوی دی، او په تېرو څو کلونو کې په کې چټکې سره مخ په زیاتېدو دی. په 2004 کال کې ، د امریکا متحدو ایالتونو نږدې 100 تنه بندیان په خپل زندان کې لرل، چې په 2007 کال کې یې شمېر 600 تنو ته ورسید.[3]په وروستیو کلونو کې د بګرام په زندان کې د بندیانو شمېره ډېره لوړه شوه، چې د 2010 کال د سپتمبر په میاشت کې نږدې 1,100 کسان وو او دغه شمېره د 2012 کال د مارچ په میاشت کې 3,110 تنو ته لوړه شوه. [4]

افغان حکومت له ډېرې مودې راهیسې شکایت درلود چې په بګرام کې د امریکا د متحدو ایالتونو لخوا د زندان فعالیت د افغانستان خپلواکۍ ته سپکاوی دی او هیله یې څرګنده کړې وه چې ټول افغان زندانیان او په افغانستان کې د امریکا زندانونه باید د افغانستان حکومت تر کنټرول لاندې راشي. [5] همدارنګه د افغانستان په قوانینو کې د مخنیوي لپاره د توقیف روښانه او قانوني صلاحیت موجود نه دی چې داسې ښکاري چې د اساسي قانون له تضمینونو څخه زیاتې سرغړونې کېږي، لکه له نیول کېدو نه ژغورل او له اړوندو قانوني مراحلو د تر سره کولو پرته زنداني کول، د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته مجازات، همدارنګه د مشورې د حق او د نیول کېدو پر مهال له محاکمې مخکې د نیول کېدو د جرم په اړه له معلوماتو پرته د هغوی زنداني کول مهمې بېلګې دي. [6]

د بګرام زندان انتقال له څو کلونو راپدېخوا تر بحث لاندې ده، خو د امریکا متحده ایالتونه په مکرر ډول د سپارلو لپاره دتیرو ټاکل شویو ضرب الاجلونو په پوره کولو کې پاتې راغلي دي. همدارنګه، د بګرام په زندان کې د زنداني وګړو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالي، افغان حکومت ته د زندانیانو او زندانونو په سپارلو کې ننګونې نورې هم زیاتې کړې دي، که څه هم دغه انتقال په سیاسي اجندا کې ډېر روښانه دی.

په 2005 زېږدیز کال کې افغان او امریکایي چارواکو هوکړه وکړه چې ټول هغه افغان بندیان چې د امریکا د متحدو ایالتونو لخوا د بګرام په زندان کې ساتل کېږي باید افغان حکومت ته وسپارل شي، او هر ځل ژمنه کوي

---

[2] "له نظره پټ" د عفوې نړیوال سازمان، پنځم مخ، د فبروري 18مه، 2009. /.http://phc.amedd.army.mil/PHC%20Resource%20Library/Bagram_Theater_Internment_Facility_(BTIF).pdf

[3] " په افغانستان کې د زندانیانو زیاتېدل، چې له ګوانتانامو سره ورته والی لري" نیویارک ټایمز، د فبروري 26 مه، 2012 /.http://phc.amedd.army.mil/PHC%20Resource%20Library/Bagram_Theater_Internment_Facility_(BTIF).pdf

[4] له امریکایي چارواکو سره د شالید د معلومات ترلاسه کول، د مارچ 9 مه، 2012، له جنرال فاروق سره مرکه ، د جون 4 مه، 2012. په 2005 کال کې ، د اسوشي ایټډ پرس د راپور له مخې، پنټاګون اټکل وکړ، چې د بګرام په زندان کې یواځې 350 تنه زندانیان شپې ورځې سبا کوي. " د امریکا متحده ایالتونه پاتې افغان زندانیان سپاري" ته مراجعه وکړئ، د اګست 4 مه، 2005. http://www.msnbc.msn.com/id/8829700/ns/world_news-south_and_central_asia/t/us-hand-over-remaining-afghan-detainees
کله چې په 2008 زېږدیز کال کې بارک اوباما د ولسمشر په توګه وټاکل شو، دغه شمېره نږدې 600 زندانیانو ته لوړه شوه، ( لومړی بشري حقونو ته وګورئ)، او دوه کاله وروسته بیا تقریباً دوه برابره شوه ، Julian E. Barnes: " امریکا په افغان زندانونو کې د ونډې په لټه کې ده"، وال سټریټ ژورنال، سپټمبر 22 مه، 2010. (http://online.wsj.com/article/SB10001424052748703399404575505864255940020.html#printMode). همدارنګه " په افغانستان کې د زندانیانو زیاتېدل، چې له ګوانتانامو سره ورته والی لري" نیویارک ټایمز، د فبروري 26 مه، 2012 ته مراجعه وکړئ. http://www.nytimes.com/2006/02/26/international/26bagram.html?pagewanted=all/ . " د امریکا له پلان سره مقابله، په افغانستان کې د زندانونو توسعه" نیویارک ټایمز. نیویارک ټایمز، د جون 7 مه، 2008. وېب . د اګست 30 مه. 2008. .http://www.nytimes.com/2008/01/07/world/asia/07bagram.html?ref=bagramairbaseafghanistan/

[5] بي بي سي خبرونه. بي بي سي، د مې 24 مه، 2005. وېب . د اګست 30 مه، 2010. . See also "Afghan President Demands Control of Bagram Prison." http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4572657.stm/ The Guardian. Guardian News and Media, 01 May 2012. Web. 30 May 2012. <http://www.guardian.co.uk/world/2012/jan/05/afghanistan-demands-us-return-bagram>.

[6] د افغانستان اساسي قانون، 27 مه او 31 مه ماده.

چې دا کار به هغه مهال ترسره کړي چې افغان حکومت د دې زندانیانو د ساتلو وړتیا ترلاسه کړي. [7] د 2010 کال د جنوري په میاشت کې د افغانستان د ملي دفاع وزارت اعلان وکړ چې له افغان حکومت سره یو هوکړه لیک لاسلیک شوی دی، تر څو د بګرام زندان د روان کال تر پایه افغان چارواکو ته وسپارل شي. د امریکا نظامي چارواکو هم په ډاګه کړه چې دغه زندان د همدی کال تر پایه او یا د 2011 کال په لومړۍ نیمایي کې افغان چارواکو ته سپاري. [8] خو له دې سره سره، په 2011 کال کې متحدو ایالتونو دا په ډاګه کړه چې د بګرام زندان د سپارلو چارې له 2014 کال نه مخکې تر سره کېدای نه شي، ځکه چې افغانان اړوند قوانین او له هغو تاوتریخوالوسره د مقابلې وړتیا نه لري چې د یاغیانو لخوا په هیواد کې رامنځته کېږي. [9]

د بګرام زندان او د امریکایي ځواکونو لخوا د نیول شویو زندانیانو په سپارلو کې ځانګړی توافق ته په رسیدو کې پر له پسې ناکامي د امریکا د متحدو ایالتونو او د افغان حکومت تر منځ د ناندریو په یوه مهمه سرچینه بدله شوه. د امریکایي ځواکونو لخوا د ځانګړو عملیاتو په ترسره کولو کنټرول د دواړو هیوادونو تر منځ د اړیکو د خرابېدو یو بل مهم ټکی وو چې ددې عملیاتو په ترڅ کې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښته، او په تیروتنې سره د ملکي افغانانو په نښه کولو د جګړې په ساحو کې له افغانانو سره اړیکې لا پسې خرابې کړې. له بیلابیلو عملیاتي لاربښوونو سره سره ، چې موخه یې د ملکي کسانو د خوندیتوب زیاتیدل وو، د نړیوالو ځواکونو لخوا په شپنیو عملیاتو کې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې د کچې لوړېدل په 2011-2010 کې د سترو عملیاتو مهمې لاسته راوړنې له پوښتنې سره مخ کړې ځکه چې په دې عملیاتو کې له زیات نه زیات ملکي کسان زیانمن شول. په پایله کې ، شپنې عملیات په نړیوالو ځواکونو او په افغان حکومت ، چې نه شي کولی په داسې عملیاتو کنټرول ولري، د عامه غصې دیوه مهم ټکي په توګه پاتې شو. [10]

د 2012 کال په لومړیو کې، شپنې عملیات او نیونې د دواړو هیوادونو تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو د توافق د بشپړېدو پر وړاندې په یوه ستر خنډ بدلې شوې چې په دې همکاریو کې د افغان – امریکا د اړیکو لپاره اوږدمهاله کاري چوکاټ او په 2014 کال کې د امریکا د نظامي ځواکونو له وتلو وروسته همکاري شاملېږي. [11]

د 2012 کال د جنوري په پنځمه نیټهنیټ، ولسمشر حامد کرزي خلکو ته دیوی روښانې پیغام او خبرداري په وړاندې کولو سره خلک حیران کړل چې په هغه کې یې غوښتنه کړې وه چې د بګرام زندان چارې به دیوې میاشتې په اوږدو کې بشپړې شي. [12]دولسمشر کرزي غوښتنې، که څه هم د تیرو ضرب الاجلونو د نه پوره کولو له امله دهغه د غوسې د نښې په توګه ښکارېده، خو دغې غوښتنې یو بل دیپلوماتیک فشار هم منعکس کړ چې په هغه کې دا هم شامل و چې د امریکا د متحدو ایالتونو او وسلوالو طالبانو تر منځ د سولې له خبرو اترو څخه افغان

[7] " د امریکا متحد ایالتونه پاتې افغان زندانیان سپاري" اسو شي ایټډ پرس، د اګسټ 4 مه، 2005. http://www.msnbc.msn.com/id/8829700/ns/world_news-south_and_central_asia/t/us-hand-over-remaining-afghan-detainees . همدارنګه کیم ګامبل ، " افغانان د امریکا تر واک لاندې زندانونو د سپارلو له پلان سره موافق دي" ته مراجعه وکړئ، اسو شي ایټډ پرس، د جنوري 9 مه، 2010. .http://seattletimes.nwsource.com/html/nationworld/2010753905_apasafghanusprison.html/

[8] جولیان اې بارنېس، د امریکا متحده ایالتونه په افغان زندانونو کې دونډې هڅه کوئ، id. په حقیقت کې امریکا په 2010/2011 افغان زندانونو ته د افغان زندانیانو د محدود شمېر سپارل پیل کړل.

[9] کېوین سیف " د افغان زندانونو سپارل وځنډول شول" واشنګټن پُسټ، د اګسټ 12مه، 2011 http://www.washingtonpost.com/world/asia-pacific/afghan-prison-transfer-delayed/2011/08/12/gIQApCGMBJ_story.html

[10] " د وژنو او نیولو قیمت: په ملکي افغانانو د شپنیو عملیاتو اغېزې" د سیمه ییزې کړنلارې نوښت، د خلاصې ټولنې بنسټ، د 2011 کال د سپټمبر میاشت. http://www.soros.org/publications/cost-killcapture-impact-night-raid-surge-afghan-civilians/ . د شپنیو عملیاتو په اړه د RPI تېرو کارونو ته هم مراجعه وکړئ: بېګانه خلک په دروازه کې : د نړیوالو ځواکونو لخوا شپنیو عملیاتو د افغانانو زړه او دماغونه له لاسه ورکړي دي: د خلاصې ټولنې بنسټ، د 2011 کال د فبروري میاشت. /.http://www.soros.org/reports/strangers-door-night-raids-international-forces-lose-hearts-and-minds-afghans

[11] د افغانستان ترون دیوې لسیزې لپاره د امریکا د مرستو ژمنه اخلي" نیویارک ټایمز، د اپرېل 23مه، 2012. http://www.nytimes.com/2012/04/23/world/asia/us-and-afghanistan-reach-partnership-agreement.html?_r=2.

[12] " افغان حکومت د بګرام زندان د چارو د سپارلو لپاره نوی اولتیماتوم وټاکه" د ولسمشر دفتر. N.p., n.d. http://president.gov.af/en/news/6842>./.

حکومت وېسپتل شوی دی او داسي تورونه چي د بګرام په زندان کي له بنديانو سره ناوړه چلند کيږي ( که څه هم وروسته دغو تورونو ته د زندان له افغاني برخي سره تړاو ورکړل شو، نه له امريکايي برخي سره ).[13]

ډيپلوماتيک پرمختګ د 2012 کال د مارچ په مياشت کي هغه مهال رامنځته شو چي د امريکا متحدو ايالتونو او افغان حکومت د افغانستان د اسلامي جمهوريت او امريکا تر منځ د افغانستان په خاوره کي د امريکايي زندانونو د سپارلو په برخه کي ديوه هوکړه ليک په لاسليکولو سره د بګرام زندان د چارو د سپارلو اعلان وکړ( له دې وروسته د زندانونو په اړه د هوکړه ليک په نامه يادېږي). [14] د زندانونو په اړه د هوکړه ليک له لاسليک وروسته ، افغان حکومت ژمنه وکړه چي په افغانستان کي د توقيف يو رژيم جوړ کړي. دا چي په افغانستان کي د توقيف يا زنداني کولو رامنځته کېدل د بګرام زندان د سپارلو لپاره دی يو شرط وي، روښانه ندی. خو له دې سره سره امريکايي چارواکو په افغان حکومت فشار راوړ، چي د توقيف دا ډول رژيم تر 2005 کال مخکي پوري جوړ کړي. [15] په دې کي لږ شک معلوميږي چي د توقيف يا زنداني کولو د رژيم جوړول د افغان مشرانو تر منځ له مستقلي پرېکړې سره ريښه نه لري ، کوم مشران چي توقيف يا زنداني کول په افغانستان کي د امنيت لپاره مهم بولي.

د زندانونو په اړه د هوکړه ليک له لاسليکولو يوه مياشت وروسته، د امريکا متحدو ايالتونو او افغان حکومت د امريکا د ځانګړو ځواکونو لخوا د عملياتو د کړکيچني موضوع په اړه توافق لاسليک کړ چي افغان حکومت ته يې لږ تر لږه په ليکلي بڼه په نظامي عملياتو کي د زيات کنټرول برخه ورکړه، دا هغه څه و چي افغان حکومت يې له اوږدې مودې راپدېخوا په هڅه کي و.[16] د ځانګړو عملياتو په اړه دغه توافق هم د توقيف په اړه افغاني رژيم ته راجع شو. له دې لږه موده وروسته، د 2012 کال د مي په مياشت کي د امريکا متحدو ايالتونو او افغان حکومت د ستراتيژيکو همکاريو توافق بشپړ کړل شو چي په ترڅ کي يې د افغانستان او امريکا تر منځ د اړيکو او له 2014 کال وروسته له افغانستان سره د امريکا د متحدو ايالتونو مرستي ته يو چوکاټ رامنځته کړ.

## 3. کړندود (ميتودولوژي)

دغه راپور د پرانيستي ټولني بنيادد پرانيستي ټولني بنياد افغانستان او پاکستان په اړه د سيمه ييزې کړنلارې د ادارې لخوا چي په افغانستان ، پاکستان او نورو برخو کي د امنيت او بشري حقونو په برخو کي کار کوي، څېړل شوی، ليکل شوی او ايډېټ شوی. مرکي د 2012 کال د مي او سپټمبر مياشتو تر منځ له څه باندې 40 لوړ پوړو افغان او امريکايي چارواکو سره ، کوم چي په مستقيم ډول د ليږد په پروسه کي ښکيل وو، او همدارنګه له لوړپوړو حقوق پوهانو او د مدني ټولني له استازو، او د بشري حقونو له نړيوالو متخصصينو سره ترسره شوي دي. سربيره پر دې، د امريکا د متحدو ايالتونو يو شمير هغو بنسټونو ، چي په افغانستان کي د توقيفي عملياتو څارنه کوي - مشترکه بين الاجنسي کاري قوه 435 ( 435 کاري قوه) – يو شمير هغو پوښتنو ته چي د پرانيستي ټولني بنيادد پرانيستي ټولني بنياد د څېړڅېړونکو لخوا مطرح شوې وې، ليکلي ځوابونه ورکړي دي، خو د

[13] د 2011 کال د ډسمبر د مياشتې په وروستيو او د 2012 کال په لومړيو کې افغان حکومت له وسلوالو ډلو سره د سولې په خبرو اترو کې د کنټرول په نشتوالي کې خپل پاتې راتلل په ډاګه کړل. په دې حالاتو کې د ملي امنيت زندانيان هم يو بل سياسي ارزښت لري. " افغان ولسمشر حامد کرزی له طالبانو سره د خبرو پلان لري". بي بي سي خبرونه، د جنوري 29مه ، 2012. . http://www.bbc.co.uk/news/world-asia-16779547 همدارنګه د 2012 کال د جنوري په مياشت کې يوه افغاني کميسيون په زندانونو کې له بنديانو سره د ناوړه چلند تور پورې کړ، چې لومړی دغه تور ته د امريکا تر واک لاندې زندانونو سره تړاو ورکړل شوی وو، خو وروسته يې ومنله، چې دغه تورونه د بګرام زندان د افغانانو تر کنټرول لاندې برخې سره تړاو لري. " د کرزي اولتيماتوم د امريکا د متحده ايالتونو د وتلو ستراتيژۍ پېچلې کړه " نيويارک ټايمز، د جنوري اتمه، 2012. http://www.nytimes.com/2012/01/09/world/asia/karzais-ultimatum-on-afghan-prison-complicates-us-exit-strategy.html?_r=1&pagewanted=all/.

[14] "د افغانستان د اسلامي جمهوريت او امريکا تر منځ افغانستان ته افغانستان په خاوره کې د امريکايي زندانونو د سپارلو په برخه کې ديوه هوکړه ليک، د مارچ 9 مه، 2012. http://www.whitehouse.gov/sites/default/files/2012.06.01u.s.-afghanistanspasignedtext.pdf/

[15] "Foiling U.S. Plan, Prison Expands in Afghanistan" *New York Times* January 7, 2008. http://www.nytimes.com/2008/01/07/world/asia/07bagram.html?ref=bagramairbaseafghanistan/.

[16] "د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د امريکا د متحدو ايالتونو تر منځ ، د افغانستان په خاوره کې د ځانګړو عملياتو د افغاني کيدو په اړه توافق (له دې وروسته د ځانګړو عملياتو په اړه توافق ويل کيږي). http://mfa.gov.af/en/news/8542/.

امریکایي چارواکو څخه زیات شمیر نورې غوښتنې د دې راپور د خپرولو تر مهاله په په تعلیق کې پاتې شوې دي. له افغان چاراکو سره مرکې لومړی په کابل کې دیوه ژباړونکي په مرسته په دري ژبه ترسره شوې. په دې تحقیق کې یوه ستونزه دا وه چې د بګرام زندان د سپارلو چارې د کم شمیر افغان او امریکا د حکومتي چارواکو لخوا تنظیم او کنټرولیږي او مهمو توافقاتو او اسنادو ته په عام ډول لاسرسی نه کیږي.

همدارنګه ، ددې راپور په څیړنه کې د قانوني اسنادو او د افغانستان د قوانینو د انګلیسي ژباړې مرور هم شامل دی. د پرانیستي ټولنې بنیادد پرانیستي ټولنې بنیادونه توانیدو تر څو د بګرام زندان د سپارلو د پروسې په اړه دوه مهم او اړوند اسناد ترلاسه کړي. یو له دې اسنادو څخه هم د ولسمشر بې شمیرې او بې نیټې فرمان دی. دیوه افغان حکومتي چارواکي په وینا، چې له دې فرمان سره اشنایي لري، ددې فرمان له مخې، د بګرام زندان د سپارلو پر چارو د څارنې کمیسیون جوړ شو. په دوهم سند کې د تخنیکي کمیټې او د افغانستان د څارنیز بورډ د غړیو کاري دندې هم شاملې دي.

## 4. د بګرام پر زندان اختلاف نظر او د امریکا د متحده ایالاتود توقیف راتلونکې

کله چې د 2012 کال د مارچ په میاشت کې افغانانو ته د امریکا تر کنټرول لاندې زندانونو او بندیانو د سپارلو اعلان وشو، دواړو هیوادونو ژمنه وکړه چې د سپارلو پروسه به د 2012 کال د سپټمبر تر نهمې نیټې بشپړه کړي . د زندانونو په اړه د هوکړه لیک د (c) 9 مې مادې له مخې " د بګرام په زندان کې د امریکا د متحدو ایالتونو قوماندان به د پروسس او سپارلو په اوږدو کې د وسلوالې جګړې د قانون له مخې د بګرام په زندان کې دهغو بندیانو مسؤولیت په غاړه ولري، کوم چې د امریکا د متحدو ایالتونو لخوا نیول شوي دي او دغه موده به له شپږو میاشتو زیات دوام نه کوي"[17] ددې هوکړه لیک کلمه بندي او معموله چوکاټ بندي داسې معنی ورکوي چې افغان حکومت به د بګرام زندان کنټرول په لاس کې ولري او په دې زندان کې د امریکا لخوا توقیف به د لیږد پروسې له بشپړېدو سره سم پای ته ورسیږي. دا هغه څه دي،کوم چې هر هغه افغان حکومتي چارواکی، چې د پرانیستې ټولنې د بنیاد لخوا ورسره مرکه شوېده، د لیږد پروسې د هوکړه لیک د معنی او مفهوم په اړه یې فکر کوي.

دې کار په حقیقت کې پر زندانونو باندې د افغانانو د خپلواکۍ د بیا احیا کیدو په څیر تشریح شوی وو، داسې یو ټکی ، چې له یو شمیر افغان چارواکو سره د پرانیستې ټولنې د بنیادد یو شمیر څیړونکو په مرکو کې تکرار شوی دی.

<u>د امریکا متحده ایالات له سپارلو وروسته د توقیف د صلاحیت هڅه کوي</u>

دا روښانه ده چې د افغان او امریکایي چارواکو تر منځ د زندانونو په اړه د هوکړه لیک په تفسیر کې توپیر موجود دی او همدارنګه دا چې دهغه په سرلیک " د امریکایي زندانونو سپارل" څه مفهوم لري، روښانه ندی.[18] د پرانیستي ټولنې بنیاد وموندله چې د بګرام زندان د سپارلو په برخه کې د افغانستان او امریکا تر منځ اختلاف ددې لامل شو چې افغان حکومت ته د امریکا لخوا د نیولو شویو زندانیانو سپارل لږ تر لږه د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې تر دریمې په موقتي ډول وځنډیږي، د سپارلو له ټاکل شوي ضرب الاجل څخه څوورځې مخکې حل شو.[19]

له لوړ پوړو افغان چارواکو سره د مرکو پر بنسټ،افغان حکومت د 2012 کال د سپټمبر نهمې نیټه د امریکا د توقیف وروستی نیټه ګڼي. دولسمشر ویاند ایمل فیضي د پرانیستي ټولنې بنیادد ته وویل : (( د سپټمبر له نهمې نیټې وروسته به هیڅ څوک د بګرام زندان امریکایي لوري ته وانه ستول شي)) خو داسې بریښي چې متحده ایالات

---

[17] د زندانونو په اړه د هوکړه لیک (c) 9 مه ماده.
[18] د زندانونو په اړه هوکړه لیک .
19 له دوو لوړ پوړو افغان چاروکو سره مرکه ، کابل – افغانستان، د سپټمبر 2 مه او دریمه، 2012

غواړي چې د بګرام د زندان په دوه بلاکونو باندې خپل واک ته دوام ورکړي.[20] د متحده ایالتو چارواکو د پرانیستې ټولنې بنیادڅیړونکو ته وویل چې (د 2012 کال د مارچ د میاشتې تړون د متحده ایالاتو د ځواکونو واک د دښمن د نیولو او زنداني کولو په برخه کې، د شخړو د قانون له مخې نه محدود کوي))[21] چارواکو یادونه وکړه چې دغه ډول زندانیان د سپتمبر د نهمې وروسته به هم په بګرام کې د متحده ایالاتو په قید کې ساتل کیږي. ((که چیرې مونږ داسې تصمیم و نیسو چې دوي به د بګرام د وګړو څخه وي، نو بیا به دوي د تړون په بنسټ لیږدول کیږي.))[22]

ان که افغان حکومت دیته چمتو وي چې متحده ایالاتو ته په بګرام کې د زندانیانو د ساتلو اجازه ورکړي، خو د زندانیانو د ساتنې د مودې په اړه اوس هم اختلاف شته، [23]((د زندانونو په اړه د هوکړه لیک له لاسلیکولو وروسته ، د زندانیانو د ساتلو لپاره زماني محدوده 72 ساعته ده او باید په پام کې ونیول شي))، د فیضي په وینا، افغانانو له متحده ایالاتو سره په دې هوکړه کړې ده چې دوی کولای شي چې زندانیان تر هغه مهاله وساتي تر څو چې افغان چارواکو ته یې سپاري، او د دغه کار لپاره د بګرام زندان په واک کې درلودلو ته اړتیا نشته. [24] . فیضي وویل، چې دغه محدوده د ځانګړو عملیاتو په اړه هوکړه لیک کې هم راغلې ده ،کوم چې په هغه کې راغلي دي چې د امریکا د ځانګړو ځواکونو عملیات باید د افغان ځواکونو لخوا تائید او ورسره په همغږۍ کې وشي. د ځانګړو عملیاتو د هوکړه لیک له مخې، یو اړخیز نظامي عملیات باید ترسره نه شي؛ که چیرې کوم افغان وګړی د افغانانو په یو اړخیزو عملیاتو او یا له نړیوالو ځواکونو سره د هغوی په ګډو عملیاتو کې نیول کیږي، نو باید افغان چارواکو ته وسپارل شي.

د ملي امنیت سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا داسي وايي (( په بګرام او یا کوم بل ځای کې به متحده ایالات زندان ونلري،کوم چې قیدیان د څو ورځو او یا اونیو لپاره پکې وساتي. هوکړه په دې شوې ده که چیرې ځینې تخنیکي ستونزې وي، نو لیږد کیدای شي دوه یا درې ورځې وخت ونیسي، د بیلګې په توګه کابل ته یې لیږد، خو په بنسټیزه توګه دوي یې باید افغانانو ته وسپاري.د مونږ او ددوي تر منځ په دې برخې کې ډیر لوې توپیر شته... ما له کرزي سره پرون خبرې کړي دي، هغه په دې اړه هیڅ ډول زغم نلري. [25]

د جمهور رییس وياند، فیضي وايي، چې په متحده ایالاتو باندې د دغه واک محدودیت د زندانونو په تړون کې هم منعکس شوی دی.

یو اړونده ستونزه چې د افغان چارواک زړه یې بد کړې دې، د مارچ له نهمې وروسته د متحده ایالاتو له لوري د زندانیانو نیولو او د متحده ایالاتو په واک کې د بګرام د زندان برخې ته د استولو دوام دې. د پرانیستې ټولنې بنیادد پرانیستې ټولنې بنیادته ویل شوي دي چې د مارچ له نهمې راهیسي د بګرام زندان ته 600 زندانیان استول شوي دي.[26]

د بګرام په زندان کې افغان قوماندان جنرال فاروق بارکزی وايي چې د زندانونو په اړه هوکړه لیک یواځې د هغو 3,100 زندانیانو په برخه کې د عملي کیدو وړ ده ،کوم چې د 2012 کال د مارچ د میاشتې تر نهمې نیټې پورې په بګرام کې بندیان شوي دي – او د پاتې نورو زندانیانو د سپارلو لپاره یو بل جلا توافق ته اړتیا ده. [27] د زندانونو په

---

[20] د چارواکو سره خبرې، د2012 کال د سپتمبر 5

[21] د خلاصې ټولنې د بنسټ د بریښنا لیک په ځواب کې په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت بریښنا لیک، د 2012 کال د سپتمبر د میاشتې 6

[22] *Id*

[23] د جمهور رييس ویاند ایمل فیضی سره مرکه، کابل، افغانستان، د 2012 کال د سپتمبر دویمه

[24] د دریم هیواد د تابعینوپرته، دا هغه موضوع ده چې اوس مهال په اجندا کې شامله نده، تر څو چې د افغاني زندانیانو ستونزه نه وي حل شوي، دغه معلومات د خلاصې ټولنې د بنیاد د مرکو څخه چې کابل کې یې له چارواکو سره ترسره کړې وې، تر لاسه شوي دي، د نورو معلوماتو لپاره د دریم هیواد بحث ته په VII برخه کې مراجعه وکړئ

[25] د ملي امنیت سلاکار، داکتر رنګین دادفر سپنتا سره مرکه، د 2012 کال، د سپتمبر د میاشتې3

[26] [26] د ملي امنیت سلاکار، داکتر رنګین دادفر سپنتا سره مرکه، د 2012 کال، د سپتمبر د میاشتې3

[27] له جنرال فاروق بارکزي سره مرکه، د اګسټ 13 مه، 2012.

اړه د هوکړه لیک 11 مي مادې  په روښانه ډول ددې احتمال په اړه څه ندي ویلي چې هغه کسان، چې د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې له نهمې وروسته نیول کیږي، د توقیف په اړه د افغانستان رژیم ته به وسپارل شي.[28]

د ملي امنیت د سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا د معلوماتو له مخې، دا چې متحده ایالتونو د پروان په زندان کې د امریکا تر کنټرول لاندې برخه کې د خلکو زنداني کولو ته دوام ورکړی دی، زموږ له توافق سره سمون نه لري.[29]

امریکایي چاراواکو منلې ده چې اوسمهال د امریکا او افغان حکومتونو تر منځ داسې کوم واضح توافق نشته چې د مارچ د میاشتې له نهمې نیټې وروسته نیول شوي کسان به وسپارل شي او یا دې ددې نویو کسانو د سپارلو لپاره کوم مهال ویش رامنځته کړي. د 435 کاري قوه چې په افغانستان کې د متحده ایالتو د زندانونو عملیاتو څارنه کوي د پرانیستې ټولنې بنیادد پرانیستي ټولني بنیادته ویلي دي، چې متحده ایالتونه غواړي ترڅو دغه نوي زندانیان هم د زندانونو په اړه د هوکړه لیک لخوا د رامنځته شوې پروسې په ترڅ کې وسپاري. (( د غه زندانیانو د لیږد پروسه چې د مارچ د نهمې د ترون څخه وروسته نیول شوي دي، د هغه زندانیانو په ډول ترسره شي، چې د مارچ د نهمې څخه وړاندې نیول شوي وه))[30] د متحده ایالاتو د دولتي اداري په وینا((زمونږ هوډ دادې چې هغه افغانان چې د مارچ په نهمه او له هغه وروسته نیول کیږي باید د افغانستان چاراواکو ته لکه د 2012 کال د مارچ د میاشتې د نهمې څخه وړاندې د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت ته لیږدول کیدل، ولیږدل شي)) خو افغان حکومتي چاراواکي د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې له نهمې نیټې وروسته په بګرام کې د امریکا د توقیفي صلاحیت د پای ته رسیږدو په اړه ډېر پریکړنده دي ، ددې زندانیانو برخلیک روښانه نه دي دی.

یو چاراواکی چې په بک ګرونډ کې یې خبرې کولې په دې ګومان وه  چې امریکا نه غواړي ټول زندانیان افغان چاراواکو ته وسپاري ، د دې اندېښنه دا وه چې ښايي هغوی د غلطو دلایلو له امله خوشي شي: (( هغوی په توقیف کې ډېر خراب خلک لري ، هغوی اندېښنه لري، چې څوک به یې خوشې کړي، د سیاسي لاملونو له امله ، د فساد دلاملونو له امله، له دې امله چې سیستم سم کار نه کوي. "[31]همدارنګه ځینې حقوقي اندېښني هم شته چې دا د متحده ایالاتو مسؤلیت دي چې د ځورولو په اړه ښکاره شواهد د شتون  په صورت کې زندانیان ونه ستوي. د پرانیستې ټولنې بنیاد د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون او  ملګرو ملتونو په هیواد کې د زندانیانو سره د پراخه ناوړه چلند او ځورولو قضیې ثبت کړي دي. [32]

## 5. د افغانانو په لاس د زندانونو د اداره کیدو د رژیم رامنځ ته کول

له قضايي مرور پرته توقیف د بشري حقونو له ژمنو څخه دیوه دولت ژوره او جدي سرغړونه ده او یوازې باید دیوه حکومت لخوا په استثنايي شرایطو کې د توقیف لپاره له ښکاره او روښانه قانوني معیارونو او د خوندیتوب له مناسبو مراحلو سره تر سره شي. کله چې افغان حکومت په 2012 کال کې ادراي توقیف معرفي کړ، نو دا کار یې له اجرایي حکم سره، پرته له کوم قانوني عمل او مشورې پ ترسره کړ چې د مشروعیت او له اساسي قانون سره د تطابق په اړه یې شدیدې اندېښنې راپورته کړې. په چارچوکاټ کې بې‌لابېل  قیودات او تقصیرونه ددې لامل شوي دي چې په راتلونکي کې ترې په خطرناک ډول د ناوړه ګټه اخیستو احتمال موجود دی . راتلونکي څپرکي په

---

[28] د زندانونو په اړه د هوکړه لیک 11 مه ماده. همدارنګه د څانګړو عملیاتو د هوکړه لیک نهمې مادې ته مراجعه وکړئ، چې وایي ، د امریکا لخوا نیول شوي کسان، چې افغانستان ته سپارل کیږي، ښايي د افغانستان حکومت لخوا زنداني شي.
29 ډاکټر سپنتا ، Id
30 د خلاصې ټولې د بنسټ لخوا د بریښنالیک له لارې پوښتنو ته د CJIATF-435 ځوابونه، د اګسټ 6 مه، 2012. غیر مستقیمې سرچینو د خلاصې ټولنې بنسټ ته په ډاګه کړې ده ، چې دغه نوي زندانیان به د پروسې په پای کې وسپارل شي.
31 له یوه چاراواکي سره ، چې په بېک ګرونډ کې یې خبرې کولې، د خلاصې ټولنې د بنسټ مرکه، د سپټمبر 2 مه، 2012
[32] د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، او د پرانیستي ټولنې بنیاد. ((ځورول، لیږد او د  مستحقې پروسې څخه محرومي: په افغانستان کې د شخړو له امله زندانیانو سره چلند)، مارچ، 2012

افغانستان کې د توقیف لپاره قانوني بنسټونه بررسي او د توقیف صلاحیت د محدودې په اړه ابهاماتو ته اشاره کوي چې د توقیف د رژیم لخوا رامنځته شوي دي.

## د توقیف لپاره قانوني بنسټ او له اساسي قانون سره مطابقت

د اساسي قانون پر پلي کیدوکیدو د څار د خپلواک کمیسیون (ICOIC) مشر ګل رحمان قاضي ، ګڼ شمیر مدافع وکیلانو او د پارلمان د غړیو په ګډون لوړ پوړو افغان چارواکو او حقوقي کارپوهانو د پرانیستې تولنې بنیاد ته وویل چې دوی هغه طریقه، چې له مخې یې حکومت د توقیف رژیم چمتو کړی دی، د افغانستان له اساسي قانون او نورو قوانینو سره په ټکر کې بولي .[33] د " لیږد طرز العمل" ، کوم چې په افغانستان کې یې د توقیف رژیم رامنځته کړ، د پارلمان مصوبه نده ، او یو اجرائیوي هوکړه لیک دی چې د 2012 کال د مارچ په میاشت کې د دفاع ، کورنیو چارو او عدلیې وزیرانو ، لوی څارنوال، د ملي امنیت د مشر او د سترې محکمې د رئیس لخوا لاسلیک شو.[34] د سپارلو د طرز العمل حقوقي حالت روښانه ندی. دا طرزالعمل پوښتنه راولاړوي، چې ایا داسې یو توافق په حقوقي او قانوني ډول کافي دی، څو حکومت ته د توقیف واک ورکړي. ددې پروسیجر ډیری احکام په اساسي قانون کې له بنسټیزو حقونو سره مطابقت نه لري. لکه د اساسي قانون 25 مې مادې سره چې په دې ماده کې یو شخص تر هغو بې‌ګناه ګڼل کیږي ترڅو چې د قانوني محکمې لخوا محکوم شوی نه وي، د اساسي قانون 27 مې مادې سره ، چې وایي " هېڅ څوک د قانون له احکامو پرته تعقیب ، دستګیر او توقیف کېدای نه شي..." او د اساسي قانون له 31 مې مادې سره، مطابقت نه لري، چې وایي، هر شخص ددې حق لري، چې مدافع وکیل ولري او د محکمې پر وړاندې حاضر شي.[35] لکه څنګه چې لاندې پرې بحث شوی دی، د افغانستان اساسي قانون د 27 مې مادې له دوهم بند څخه عدم مطابقت ته اجازه ورکوي، خو یواځې د واضح عامه بیړني حالت په صورت کې.

نړیوالې بشري قانون، بشري حقونه او معمول قوانین وایيچې دولتونه کولای شي چې خلک د غیر وسلوالو نړیوالو جګړو پر مهال د امنیت د وقایوي تدابیرو له امله بندیان کړي .[36] په 2009 کال کې، افغانستان د ژنیو کنوانسیون د II اضافي پروتوکول (AP II) غړیتوب ترلاسه کړ، چې دغه پروتوکول له ګډې دریمې مادې له مخې په هغو زندانیانو باندې د پلي کیدو وړ حد اقل حفاظت رامنځته کوي کوم چې په غیرنړیوالو وسلوالو جګړو کې بندیانېږي. افغانستان باید دیوه غړي هېواد په توګه ، هغو حد اقل تضمینونو او ملاتړو ته ، چې په معاهده کې راغلي دي، درناوی وکړي. خو AP II په یواځې ډول افغان حکومت ته ددې حق نه ورکوي چې له توقیف نه دې کار واخلي. AP II یواځې د توقیف موضوعات تنظیموي او د توقیف د قانون دیوې موضوع په توګه حد اقل تضمینونه رامنځته کوي – خو دا په دولتونو پورې اړه لري ترڅو داسې مناسب حقوقي چوکاټ رامنځته کړي، د کوم په ترڅ چې توقیف لپاره ثابت شرایط او پروسیجرونه رامنځته کړي او پلي کول یې یقیني کړي . لدی

[33] له ګل رحمان قاضي سره مرکه، کابل – افغانستان، د اګسټ 12مه، 2012 ؛ د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC) له کمېشنر محمد فرید حمیدي سره مرکه، د اګسټ 15 مه، 2012، کابل – افغانستان؛ د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې (AIBA) له رئیس روح الله قاري زاده سره مرکه، د اګسټ 11مه، 2012، کابل- افغانستان، د افغانستان د نړیوال حقوقي سازمان (ILF-A)له مشر شبیر احمد سره مرکه، کابل ، د اګسټ 11 مه، 2012، کابل – افغانستان ؛ د افغانستان د حقوقي همکارۍ د سازمان له اجرائیوي مرستیال قوي عبدل افضلي سره مرکه، کابل – افغانستان ، د اګسټ 12 مه، 2012؛ د افغانستان د حقوقي همکاریو د سازمان (LAOA) له اجرائیوي مشر ډاکټر راتب مظفري سره مرکه ، کابل – افغانستان ، د مې 20 مه، 2012؛ د پارلمان له غړې شینکۍ کروخېل سره مرکه ، کابل افغانستان، د جون 2 مه، 2012 ؛ د پارلمان له غړې شکریه بارکزۍ سره مرکه ، کابل – افغانستان ، د جون 3 مه، 2012. په یاد ولرئ، چې د اساسي قانون پر سر د اختلافاتو د هوارولو لپاره د کمیسیون د حکم په برخه کې د ولسمشرۍ دفتر، پارلمان، سترې محکمې او د اساسي قانون پر پلي کیدو د څار د خپلواک کمیسیون تر منځ اختلاف موجود دی. د زیاتو معلوماتو لپاره " د افغانستان انتخاباتي کړکېچ" د بحران نړیوال ګروپ، د فبروري 23 مه، 2011، http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/B117-afghanistans-elections-stalemate.aspx/ ؛ او همدارنګه " د افغانستان د قضایي سیستم ریفورم" د بحران نړیوال ګروپ، د نومبر 17 مه، 2010 ته مراجعه وکړئ. http://www.crisisgroup.org/en/publication-type/media-releases/2010/asia/reforming-afghanistans-broken-judiciary.aspx/.

[34] " د امریکا له متحدو ایالتونو څخه د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د بګرام زندان او څرخي پله زندان د سپارلو او منجمنټ پروسیجر" د 2012 کال د مارچ په دریمه نېټنیټه لاسلیک شو. ددې پروسیجر دري او انګلیسي کاپي د خلاصې ټولنې د بنسټ لخوا ترلاسه شوې وه.

[35] د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، 25، 27 او 31 مه ماده.
http://www.afghanembassy.com.pl/cms/uploads/images/Constitution/The%20Constitution.pdf/.

36 د اضافي II پروتوکول پنځمه او شپږمه ماده ، کوم چې په غیر نړیواله وسلواله جګړه کې مدیریت کنټرولوي ، توقیف یې په روښانه ډول ذکر کړی دی.

املهداسي رژیمونه د داخلي قوانينو په پام کې نيولو سره حقوقي او قانوني دي.[37] افغانستان بايد له دې املـه يو مناسب داخلي قانوني چوکاټ رامنځته کړي کوم چې د افغانستان له اساسي قانون او نورو قوانينو سره مطابقت ولري.

داسې ښکاري چې يو شمير افغان چارواکي په دې اند دي چې AP II په قانوني ډول ددې لپاره کفايت کوي چې د افغانستان د قانون په رڼا کې توقيف معرفي کړي. ډاکټر رنګين دادفر سپنتا د ملي امنيت سلاکار د پرانيستې ټولنې بنياد ته وويل : (( موږ بايد يوه قانوني لاره پيدا کړو، څو له مخې يې د امنيت لپاره خطرناک کسان تر هغو وساتو تر څوچې خطر له منځه نه وي تللی.)) ډاکټر سپنتا ددې پوښتنې په ځواب کې چې په افغانستان کې د توقيف لپاره کوم قانوني چوکاټ موجود دی وويل (( AP II او ژنيوا کنوانسيون، دا د افغانستان د داخلي قانون يوه نه بېلېدونکې برخه ده ، پارلمان هغه تصويب کړي او ولسمشر لاسليک کړي دي... AP II زموږ د قانون يوه برخه ده. په همدې ډول رحيم وردګ چې د زندانونو په اړه د هوکړه ليک د لاسليکولو پر مهال د ملي دفاع وزير و، ويلي و؛ له دې امله چې افغانستان د AP II يو غړی هېواد دی " دا زموږ د قانون يوه برخه ده، او موږ يې عملي کوو"[38] رحيم وردګ ادعا وکړه، چې يو لنډمهالی " طرزالعمل" موجود دی ( احتمالاً هغه طرزالعمل چې د ليږد د طرزالعمل په واسطه رامنځته شوی دی) ، اوبلې يې و چې يو اوږدمهاله ميکانيزم به معرفي شي. که څه هم افغان حکومت په دې هڅه کې دی چې يو داسې قانون معرفي کړيچې د توقيف مسئله تنظيم او مجوزه کړي. ډاکټر سپنتا وويل، چې د عدليې وزير به په داسې يوه مصوبه کار وکړيترڅو د توقيف موضوع ته د افغانستان له اساسي قانون سره مطابقت ورکړي، خو (( دا دا بدلون ډېر ژر نه رامنځته کيږي، دا يوه اوږده پروسه ده. ))

لکه څنګه چې پورته وليدل شول، د AP II غړيتوب په ساده ډول افغانستان ته قانوني صلاحيت نه ورکوي، تر څو توقيف ترسره کړي او دا مسئله هم نه هواروي چې توقيف د افغانستان د قوانينو او اساسي قانون له مخې قانوني دی. د اساسي قانون په برخه کې د کميسيون د مشر ګل رحمان قاضي د څرګندونو له مخې، که څه هم د AP II پر بنسټ د توقيف د رژيم رامنځته کول د ليږد په طرزالعمل او د امريکا د متحدو ايالتونو او افغانستان تر منځ د زندانونو په اړه هوکړه ته راجع شوی ده، خو دا د افغانستان د داخلي قانون په توګه حقوقي کفايت نه لري. " دا يوازې يو وړانديز دی – تر دې مهاله موږ کوم قانون نه لرو [ چې توقيف دې مجوز کړي] ځکه چې دا د افغانستان د اوسني قانون او اساسي قانون خلاف ده... دا د اساسي قانون له 25 مې او 27 مې مادې سره په ټکر کې ده. قاضي وويل، په داسې حال کې چې د امريکا لخوا ډېری سپارل شوي بنديان ښايي خوشې کړای شي او يا د محاکمې لپاره افغان محکمو ته راجع کړای شي، حکومت اوسمهال زيات شمير کسان له کوم جرم يا محاکمې پرته د توقيف تر رژيم لاندې لري. " دا غير قانوني ده" د قاضي په وينا " ان که چيرې يو تن هم په دې ډول زنداني وي، نو دا به غير قانوني وي. "[39]

مهمو افغان حقوق پوهانو هم د توقيف پر رژيم نيوکه وکړه چې د اساسي قانون خلاف دی. د افغانستان د مدافع وکيلانو د خپلواکې ټولنې رئيس روح الله قاري زاده وويل: " که چيرې حکومت خپلواکه وي او د قانون حاکميت ته درناوی لري، نو دا رژيم بايد عملي نه کړي" . هغه وويل : " دا د اساسي قانون خلاف ده... که چيرې حکومت غواړي په بګرام کې همداسې سيستم ولري [ لکه څنګه چې يې امريکائيان لري] ، نو دې طرزالعمل ته دې دوام ورکړي – او که يې امريکائيان حمايت کوي ، په دواړو صورتونو کې ناقانونه دی."[40] د افغانستان د حقوقي همکاريو د سازمان او د افغانستان د نړيوال حقوقي سازمان (ILF-A)) په ګډون د مهمو حقوقي همکاريو د سازمانونو مشران ټول په دې اند دي، چې د توقيف رژيم د افغانستان له داخلي قوانينو او اساسي قانون سره مطابقت نه لري.[41] په افغانستان کې د بشري حقونو دخپلواک کميسيون (AIHRC) يو کمېشنر محمد فريد حميدي هم له دې نظر سره موافق دی او وايي: " موږ د قانون يا اساسي قانون په چوکاټ کې ددې لپاره حقوقي بنسټ نه

---

[37] خلک بايد له ازادۍ نه محروم نه شي " مګر په داسې شرايطو کې او له داسې پروسيجرونو سره سم، چې د قانون له خوا وضع شوي وي" د مدني او سياسي حقونو په اړه نړيوال کنوانسيون (ICCPR)، 9.1 ماده.

[38] د ملي دفاع وزير رحيم وردګ، د CSIS مطبوعاتي کنفرانس، واشنګټن ډي سي، د اپرېل 4 مه، 2012. http://csis.org/event/statesmens-forum-afghanistan-minister-defense-wardak-and-minister-interior-mohammadi (Question to Minister at 00:56:45).

[39] له ګل رحمان قاضي سره مرکه، د اګسټ 11 مه، 2012، کابل – افغانستان.

[40] له روح الله قاري زاده سره مرکه، د اګسټ 11 مه، 2012 ، کابل – افغانستان.

[41] د افغانستان د نړيوال حقوقي سازمان (ILF-A) له مشر شبير احمد سره مرکه ، د اګسټ 11مه، 2012، کابل – افغانستان؛ د افغانستان د حقوقي همکاريو د سازمان (LAOA) د اجرائيوي مشر له مرستيال قوي عبدل افضلي سره مرکه، کابل – افغانستان، د اګسټ 12 مه ، 2012؛ د LAOA له اجرائيوي مشر ډاکټر راتب مظفري سره مرکه، کابل افغانستان، د مې 20 مه، 2012.

لرو. " د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د اساسي قانون پر پلي کیدو د څار خپلواک کمیسیون ته یو مکتوب واستوه او رسماً یې له هغوی وغوښتل تر څو د توقیف د رژیم په اړه هغوی ته رسمي نظر ورکړي او دغه کمیسیون ځواب ورکړ چې هغوی داسې فکر کوي چې د توقیف رژیم د اساسي قانون سره مطابقت نه لري. [42]

کله چې د ملي دفاع له سرپرست وزیر عنایت الله نظري نه ددې نیوکو په اړه پوښتنه وشوه، هغه ومنله چې داسې نه ښکاري چې د داسې یوه رژیم لپاره دې د افغانستان په قانون کې کوم اساس موجود وي: (( دا امریکائیان دي چې له محکمې پرته زنداني کولو ته اداري زنداني کول [ توقیف ] وایي. [ هغوی] د ژنیو په کنوانسیون متکي دي. خو افغان حقوق پوهان او د اساسي قانون کمیسیون د افغانستان قوانین په نظر کې نیسي، او اداري توقیف په کې ندی ذکر شوی. دا یوائې د ژنیو په کنوانسیون کې دی.)) [43]

د لیږد په طرزالعمل کې هم بې‌لابېل طرزالعملی حمایتونه شامل دي. د 4 مې مادې له مخې، زنداني ته باید د توقیف د لاملونو په اړه معلومات ورکړل شي او دیوه درې کسیز بورد پر وړاندې د هغوی ضمانت کیږي " په ممکنه اندازه لږ تاخیرسره، د توقیف پر وړاندې د هغوی د دفاع حق" او همدارنګه هغوی ددې حق لري چې شواهد او شاهدان راوغواړي ( په دې پروسه به په راتلونکې کې په VI برخه کې مفصل بحث وشي). همدارنګه زنداني ددې اجازه لري تر څو دیوه " شخصي استازي او یا که موجود وي، حقوقي ملاتړ) په واسطه ورسره مرسته وشي". [44] په داسې حال کې چې دغه طرزالعملی حمایت حد اقل تضمین له ځانه سره لري، داسې نه ښکاري، چې د افغانستان په اساسي قانون کې دې له بې‌لابېلو ملاتړو سره مطابقت ولري، د بېلګې په توګه، د مدافع مشوري حق، لکه څنګه چې یې پورته یادونه وشوه. همدارنګه، لکه څنګه چې لاندې په IV برخه کې پرې بحث شوی، ایا په عملي ډول ددې پروسې حمایت ته بشپړ درناوی شوی دی. د افغانستان اساسي قانون له ځینو بنسټیزو حقونو څخه په عامه بیړنیو حالاتو کې د انحراف اجازه ورکړې ده. ددې قانون په 143 مه ماده کې راغلي چې ولسمشر د پارلمان په تصویب کولی شي بیړنی حالت اعلان کړي" که چېرې د خپلواکۍ حفظ او ملي حیات له هغو لارې چې په اساسي قانون کې راغلي ناشونی شي". که چیرې دغه بیړنی حالت له دوو میاشتو زیات دوام کوي، نو د تمدید لپاره یې د پارلمان موافقت شرط دی. د اساسي قانون د 145 مې مادې له مخې، د بیړني حالت په صورت کې ولسمشر کولی شي د 27 مې مادې ددوهم بند په ګډون د اساسي قانون ځینې احکام معطل کړي چې په دې بند کې راغلي دي: " هېڅ څوک د قانون له احکامو پرته تعقیب ، توقیف او زنداني کېدای نه شي". [45] خو له دې سره سره، ددې تعطیل لپاره قانوني شرایط لوړ دي: ولسمشر باید نه یوائې دا چې په رسمي ډول بیړنی حالت اعلان کړي، بلکې باید د پارلمان د مشرانو او دسترې محکمې د مشر موافقت ترلاسه کړي. د بیړني حالت اعلان له اساسي حقونو څخه د ورته انحراف اجازه ورکوي ځکه چې هغه په 27 ماده کې د راغلو حقونو د تعطیل اجازه ورکوي. په داسې حال کې چې د بیړني حالت د اعلانولو پروسه له هغې طریقې سره زیات توپیر لري چې له مخې یې ولسمشر د توقیف رژیم رامنځته کړی دی: دا د پارلمان ، سترې محکمې او ولس له څارنې پرته.

سربیره پر دې، ان که افغان حکومت د عامه بیړني حالت د اعلان او د 27 مې مادې ددوهم بند د تعطیل له لارې د توقیف پراخ صلاحیت ترلاسه هم کړي، نو د اساسي قانون له مخې داسې نور حقونه هم شته چې په بیړني حالت کې د توقیف رژیم باید ترې اطاعت وکړي، لکه تر محاکمې مخکې د شخص بې‌ګناه ګڼل، د مشورې حق، او د نیول کیدو د لامل په اړه معلومات چې له امله یې د لیږد طرزالعمل او د توقیف اوسنی رژیم اوس هم سرغړونه کوي. [46]

ولسمشر کرزي د توقیف د رژیم په اړه خپل نظریات په ډاګه کړي دي. رد کړې ده ، دولسمشر حامد کرزي ویاند ایمل فیضي د خپلواکۍ تولني نهاد ته وویل(( د اداري توقیف په اړه د افغانستان په قانون کې هېڅ هم ندي

---

[42] له محمد فرید حمیدي سره مرکه ، د اګسټ 15 مه، 2012، کابل – افغانستان.

43 د ملي دفاع وزارت له سرپرست له عنایت الله نظري سره مرکه، د اګسټ 13 مه، 2012، کابل- افغانستان .

[44] د لېږد یا سپارلو پروسیجر (ld)، 4 مه ماده.

[45] د افغانستان د اساسي قانون نهم فصل ته مراجعه وکړئ، چې په دې فصل کې د بیړني حالت شرایط په ډاګه شوي دي، چې له مخې یې د اساسي قانون بېلابېلې مادې یا د مادو ځینې برخې معطلېدای شي، چې له دې کې د 27 مې مادې دوهم پاراګراف شامل دی، لکه څنګه یې چې یادونه شوېده. د خلکو د راغونډېدو ازادي هم معطلېدای شي، لکه ټیلفون او برېښنالیک او همدارنګه د کور د پلټنې لپاره له وړاندې خبرداری. http://www.afghanembassy.com.pl/cms/uploads/images/Constitution/The%20Constitution.pdf/.

[46] د افغانستان د اساسي قانون 20 مې مادې.

راغلي.... په خپله ولسمشر هم د اداري توقيف خلاف دی .))[47] له دې سره سره ،جمهور رييس د ولسمشری د فرمان په ګډون يو اجرائيوي دستور صادر کړ او بين الدول توافق ته يې اجازه ورکړه تر څو د داسې يو رژيم د رامنځته کولو لپاره طرزالعملونهرامنځته کړي

ولسمشر حامد کرزي له ډېرې مودې راپدېخوا مقاومت کاوه تر څو په افغانستان کې تاوتريخوالی يوه وسلواله جګړه وبولي، لکه څنګه چې د AP II په چوکاټ کې د توقيف لاس پورې کول دهغه مستلزم دي. د دلايلو په پام کې نيولو پرته، له څخه سره عامه انکار او د توقيف ددې واک د رامنځته کولو يو اړخيز او غير ديموکراټيکې کړنلارې ،د عامه امنيت او ديموکراټيک حساب ورکوني مخه نيولې ده.

## د بين الدول موافقتنامې په چوکاټ کې د توقيف معيارونه

د انتقال طرزالعمل د 4.1 مادې پر بنسټ، يو شخص هغه مهال توقيف کېدای شي چې يو له لاندې معيارونو څخه ولري:

(i) نيول شوی شخص ديوې داسې وسلوالې ډلې غړی وي او يا يې حقيقي ملاتړ وکړي چې د افغانستان اويا د نړيوالو ځواکونو پر وړاندې دښمنی کې لاس ولري.

(ii) نيول شوي شخص يو جنګي عمل ترسره کړی وي او يا يې هڅه کړې وي.

(iii) نيول شخص د يوه بل چا لخوا ديوه جنګي عمل د ارتکاب حقيقي ملاتړ کړی وي يا يې دهغه لخوا د ارتکاب لپاره هڅه کړې وي.

د توقيف په معيارونو کې زيات تناقض موجود دی، په ځانګړې توګه د " د غړي" او " حقيقي ملاتړ" په معنی کې. ددې الفاظو د تفسير لپاره د لارښووني نشتوالی يوه ستونزه ده، په ځانګړې توګه په هغو ځايونو کې چې شواهد ناکافي وي ( د نيول شوي شخص د قضيې په دوسيه کې د شواهدو د کفايت په اړه د بحث لپاره VII برخې ته مراجعه وکړئ). کېدای شي له هغه څه سره چې د توقيف د معيارونو لپاره لازم وي زيات اختلاف موجود وي او دا چې څرنګه د داسې يو تفسير په پايله کې له يو شخص سره د هغه چلند د ټاکلو په برخه کې تړاو لري چې هغه يې مطرح کوي او د جنايي توقيف خلاف وقايوي توقيف باندې ددې شخص د محکومولو اړتيا.

بدتر له دې ، دا چې څرنګه داسې مبهم عيارونه کېدای شي د توقيف له رژيم څخه ناوړه ګټې اخيستو ته زمينه مساعده کړي.

زيات شمير مهمو افغان حقوق پوهانو د توقيف واک د پراخې او ناتعريف شوې محدودې په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي. د LAOA مرستيال عبدل قوي افضلي وويل " دا اصلي موضوع ده"، " که چيرې حکومت ته اجازه ورکړي چې ديو چا په نيولو کې مخکې ولاړ شي او هغه د اداري توقيف په نامه په زندان کې واچوي، نو دا کيدای شي د شخصي تمايلاتو له امله هم ترسره شي، لکه څنګه چې يې هغوی وينې او لکه څنګه چې يې هغوی حس کوي. وېره همدا ده".

## په افغانستان کې توقيف : پاتې کيږي؟

زيات شمير لوړ پوړو افغان چارواکو د پرانيستي تولني بنياد ته وويل چې د سپارلو طرزالعمل يوازې ددې لپاره منل شوی وه تر څو هغه کسان دولت ته وسپارل شي چې د امريکا لخوا په بګرام کې بنديان شوي دي. ددې سپارلو په بشپړېدو سره به نور اضافي کسان توقيف نه شي، او که توقيف کيږي هم ، نو د افغانستان د قوانينو له مخې به ورسره چلند کيږي. د ملي دفاع سرپرست وزير عنايت الله نظري ددې پوښتني په ځواب کې چې ايا د توقيف رژيم

[47] د ولسمشر له وياند ايمل فيضي سره مرکه ، کابل – افغانستان، د سپټمبر 2 مه، 2012.

به په هغو کسانو هم عملي شي چې د سپټمبر له نهمې وروسته نیول کیږي، وویل: (( د زندانونو په اړه د هوکړه لیک له مخې به دا د افغانانو صلاحیت وي چې د سپټمبر له نهمې وروسته له زندانیانو سره څه کوي... هر څوک چې نیول کیږي، د افغانستان د قانون له مخې به ورسره چلند وشي.))[48]

جنرال فاروق هم وایي چې د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې له نهمې وروسته باید نور کسان توقیف نه شي او ټولې توقیف خانې باید د افغانستان تر کنټرول لاندې وي. " د سپټمبر له نهمې نیټې وروسته به د څیړنې بورد نه وي، تخنیکي کمیټه به هم نه وي.... هر هغه څوک چې د سپټمبر له نهمې نیټې وروسته نیول کیږي، نو افغاني لوري ته به استول کیږي...." جنرال فاروق وایي چې د څیړنې بورد ښایي تر هغو خپل کار ته دوام ورکړي تر څو د هغو کسانو قضیې هوارې شي چې د زندانونو په اړه د هوکړه لیک پر بنسټ سپارل شوي دي.

د ملي امنیت ریاست (NDS) د عدلیې وزارت او د کورنیو چارو وزارتونو له افغان چارواکو سره مرکې هم په ډاګه کوي چې افغان حکومت په دې اند دی چې د سپارلو طرزالعمل د توقیف پراخ صلاحیت ندی معرفي کړی تر څو دهغو کسانو لپاره وکارول شي، کوم چې د افغان ځواکونو لخوا نیول کیږي او یواځې په هغو زندانیانو د عملي کیدو وړ دی چې د زندانونو په اړه د هوکړه لیک په رڼا کې د بګرام له زندان نه سپارل کیږي او د بګرام زندان د سپارلو د چارو په بشپړېدو سره به ټولې هغه ادارې چې د توقیف رژیم د عملي کولو لپاره جوړې شوي دي ( پورته یې یادونه شوې ده) لغو شي.

ددې احتمال چې د افغانستان د توقیف رژیم به د 2012 کال د سپټمبر د میاشتې له نهمې نیټې وروسته به هم دوام پیدا کړي، دې ته لاره هواروي چې د امریکا متحده ایالتونه به هم د بګرام زندان د امریکا تر کنټرول لاندې برخه کې، توقیفي عملیاتو ته دوام ورکړي، لکه څنګه چې پرې پورته بحث وشو. د امریکا متحده ایالتونه ښایي ټینګار وکړي چې د بګرام زندان د افغانانو تر کنټرول لاندې برخه کې د توقیف رژیم موجود دی تر څو د امریکا لخوا نیول شوي زندانان ورته وسپارل شي.

د ملي امنیت سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا د پرانیستې ټولنې بنیاد ته وویل چې افغان حکومت به د بګرام زندان له سپارل کیدو وروسته هم د توقیف له رژیم څخه کار اخیستو ته دوام ورکړي او ښایي هغه کسان توقیف کړي چې د افغاني ځواکونو په عملیاتو کې نیول کیږي. (( د بېلګې په توګه ، که چیرې موږ د کابل په یوه سړک کې د لوګر ولایت لپاره د طالبانو لخوا نومول شوی والي ونیسو، نو زموږ د قانوني سیستم له مخې باید موږ هغه خوشې کړو ځکه چې موږ هیڅ داسې ثبوت نه لرو چې دی دې د خلکو په وژلو کې لاس ولري. یو افغان قاضي به پوښتنه وکړي چې ایا له هغه سره وسله وه، ایا هغه په کوم چا برید وکړ، خو ان که چیرې موږ د غږ ثبتوونکی هم ولرو[ استخباراتي ممانعت) نو دا هم اعتبار نه لري [ په افغاني محکمو کې د شواهدو په توګه] . خو موږ پوهېږو چې هغه نومول شوی والي او د لسګونو ترهګرو قوماندان دی..... موږ څه ډول کولی شو چې هغه په قانوني ډول وساتو او حقونو ته یې درناوی وکړو؟ دا هغه څه دي، چې AP II یې وړاندې کوي، هغه دې شخص ته خوندیتوب ورکوي او له افغانستان نه غواړي، څو د هغه بشري حقونو ته درناوی وکړي، خو ددې په څوا کې ، موږ ته ددې اجازه هم راکوي، چې هغه وساتو [ په توقیف کې].

د توقیف په رژیم کې د روښانه او واضح حدودو نشتوالی – او دغه لیدلوری، چې له دې طرزالعمل څخه کېدای شي د هغو کسانو د توقیف لپاره هم کار واخیستل شي چې د سپارلو له بشپړېدو وروسته او په راتلونکې کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې نیول کیږي، د اندېښنې وړ ده. د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې مشر روح الله قاري زاده وایي " د [ زندانونو په اړه د هوکړه لیک په طرزالعمل کې] داسې کوم څه ندي لیکل شوي چې دا یواځې هغو 3,100 کسانو ته محدود کړي،کوم چې د بګرام په زندان کې دي او یا یې د زندانیانو سپارلو ته محدود کړي. له دې امله موږ اندېښمن یو چې که چیرې افغان حکومت یا امریکا وغواړي ، نو هغوی کولی شي د سپارلو د نیټې له پوره کیدو وروسته هم خلک په حکومتي توقیف کې واچوي، او هغوی به وایي چې په دې توافق کې هیڅ داسې څه نشته ،کوم چې ددې کار مخه ونیسي. "[49]

---

48 د ملي دفاع وزارت له سرپرست عنایت الله نظري سره مرکه، د اګسټ 13 مه، 2012، کابل - افغانستان

[49] له روح الله قاري زاده سره مرکه، د اګسټ 11 مه، 2012، کابل – افغانستان.

که چیرې افغان حکومت د پارلمان په ګډون د جګړې د حالت په اړه پرېکړه قانوني کړي او د امنیتي ګواښونو پر اختیا دا اړینه کړي،کوم چې په ځینو شرایطو کې له توقیف نه کار واخیستل شي، خو حکومت باید بیا هم دا کار په داسې طریقه ترسره کړي،چې د افغانستان او نړیوال قانون په رڼا کې قانوني بڼه ولري.

د عبدل قوي افضلي په شان منتقدین له نورو هم غواړي تر څو په افغانستان کې د سیاست او قانون د حاکمیت د حقایقو په رڼا کې د داسې یوه رژیم پلي کېدل جدي ونیسي. قوي وایي: " ددې حقیقت په پام کې نیولو سره، کوم چې زموږ خپل قوانین د زورواکو لخوا تر پښو لاندې کیږي، نو لکه څنګه چې په دې قانون کې راغلي دي، که چیرې هغوی ته د خلکو د نیولو حقیقي او قانوني حق ورکړل شي، نو څه به پیښ شي؟ "

## 6. د زندانیانو لیږد په عمل کې: له متحده ایالاتو څخه افغان زندانونو ته د افغان بندیانو لیږدول.

افغان چارواکو ته د امریکا لخوا د نیولو شویو زندانیانو د سپارلو د پروسې مخه د حمایت دیوې ځانګړې پروسې نشتوالي، ناکافي شواهدو او په دې اړه د روښانه معیارونو نشتوالي له امله نیول شوېده چې ایا دغه زندانیان به خوشې شي، محاکمه به شي او یا به توقیف شي. دغه ستونزې د سپارلو لپاره د لنډمهالي – شپږ میاشتنې پروسې لخوا لا پسې زیاتې شوې دي. د ملي امنیت په جنايي محکمه ( په پروان کې قضایي مرکز) کې د محاکمې لپاره د زیات شمیر نویو زندانیانو ناڅاپي راتګ د قضیو د سپیناوي ستونزې لاپسې بدترې کړې او د ظرفیت نشتوالي د اوږدمهاله توقیف او له اړوندې پروسې څخه د سرغړونې خطر زیات کړ. هغه شدیده اندېښنه په ځای پاتې شوه چې ایا هغه زندانیان، کوم چې د توقیف لپاره د افغان څېړنیز بورډ ته وړاندې شول د دې فرصت یې تر لاسه کړ چې د خپل زنداني کیدو د لاملونو په اړه دفاع وکړي، په ځانګړې توګه، خپلواکې مشورې ته د نه لاسرسي په پام کې نیولو سره او همدارنګه هغو شواهدو ته د نه لاسرسي په پام کې نیولو سره ،کوم چې د څېړنیز بورډ لخوا وکارول شول.
که څه هم نږدې ټول هغه 3,100 تنه ، چې د 2012 کال د مارچ تر میاشتې پورې د پروان په زندان کې اچول شوي و، افغان چارواکو ته سپارل شوي دي، خو 600 بندیان لا تراوسه د سپارل کیدو لپاره پاتې دي. ددې لیږد د بشپړولو لپاره جوړ شوي طرزالعملونه او بنسټونه ښایي د افغانستان د توقیف رژیم او قضایي سیستم د تل پاتې انځور په شکل پاتې شي.

### د تخنیکي کمیټې کتنې: عدلي تعقیب، بندي کیدنه، یا خوشې کیدنه

د متحده ایالاتو د زندانیانو د لیږد په اړه تخنیکي کمیټه یو ډېر مهم رول لوبوي: دا کمیټه دا مشخصوي چې کوم کسان باید د افغاني محکمو له خوا طی مراحل شي او کوم کسان خپل زندان ته دوام ورکړي چې ددې کار په اړه پریکړه هد یوې دري کسیزې کمیټې له خوا ترسره کیږي.
دا تخنیکي کمیټه او مسولیتونه یې ظاهرا د ولسمشر د یو ناچاپ شوي فرمان له مخې رامنځته شوي دي.[50] د نورو چارواکو د معلوماتو له مخې ، دا کمیسون له 15 غړیو څخه جوړ شوي چې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو، د ملي امنیت د عمومي ریاست، سترې محکمې او لوی څارنوالۍ غړي پکې شامل دي. د متحده ایالاتو اردو د هر زنداني دوسیه چې د دوی له زندان څخه لیږدول کیږي د تخنیکي کمیټې په واک کې ورکوي. تخنیکي کمیټه د رایو په توافق سره دا معلوموي چې ایا کافي شواهد شته چې په افغاني محکمه کې د بندي د لیږد په اړه د اوریدو وړ وي او په اساس یې یو کس د عدلي تعقیب لپاره وغوښتل شي.[51]

---

[50] د بندي کیدلو پروسیجر د پنځمي مادې په اساس باید د ولسمشر له خوا یو کمیسون جوړشي. خو د ولسمشر په دې فرمان کې نه د کمیسون د کسانو شمیره ذکر شوي او نه هم پکی نیټه شتون لری. د خلاصی ټولني بنسټ ډیري هڅي کړي چې ددي فرمان یوه کاپي لاسته راوړي خو کومه نتیجه یې لا نه ده ورکړي.
[51] د سترې محکمې له خوا تخنیکي کمیټی ته د رالیږدول شوي استازی، قاضی محمود احمدی سره د 2012 کال د جولای په 16 مرکه، د لوی څارنوالی له خوا تخنیکي کمیټي ته د رالیږدول شوي استازی، څارنوال اکرم سره د 2012 کال د جولای په 12 مرکه

ټولي هغه قضيې چې د جزايي عدلي تعقيب لاندي نيولو لپاره ليږدول کيږي، د پروان عدلي مرکز (JCIP) ته ځي. دا يوه افغاني امنيتي محکمه ده چې د DFIP تر څنګ لاندي په 2010 کال کې د متحده ايالاتو د حکومت د پراخ ملاتړ سره رامنځته شوه ،تر څو هغه زندانيان چې د متحده ايالاتو له خوا په DFIP کې نيول شوي دی، د عدلي تعقيب لاندي ونيسي. په JCIP کې افغان څارنوالان دا مشخصوي چې زندانيانو په هکله د الزاميت دلايل وړاندي کړي او هغوی محکمې ته راکاږي، يا يې خوشې کړي ځکه چې کافي شواهد وجود نه لري او يا دا چې يوه زياته موده وخت يې لا وار دمخه په زندان کې تير کړي او يا دا چې بنديان د لا زياتو کتنو او معلوماتو لپاره بيا تخنيکي کميټې ته واستوي.

دا چې يو ډېر شمير قضيې د تخنيکي کميټې له خوا JCIP ته ليږدول کيږي، په خپله ځينې انديښنې د ځانه سره لري. يوه يې هم داده چې په دې سره د قضاياو تراکم رامنځته کيږي چې په نتيجه کې توقيف لاپسې اوږديږي او عمومي اصول تر سوال لاندي راولي. داسې يو حالت يو حتمي امر ښکاري ځکه چې په ډېرې چټکۍ سره له متحده ايالاتو څخه په يو ډېر شمير کې زندانيان ليږدول کيږي. ددې انديښنه هم شته چې دګڼ شمير بنديانو په اړه کافي شواهد وجود ونه لري کوم چې په خپل وار د افغان حکومت دا وړتيا ضعيفه کوي چې بنديانو ته د يوې عادلانه محکمې شرايط برابر کړي او کېدای شي چې لا نور وخت په دې کې هم تير شي ځکه کله چې کافي شواهد وجود و نه لري نو د بنديانو قضيې د بيا کتنې لپاره تخنيکي کميټې ته يو ځل بيا ليږدول کيږي.
د ليږدول شوي بندي دوسيه ښايي د داسې شواهدو او مدارکو درلودونکي وي چې په يوې افغاني محکمه کې د وارديدو وړ وي، د بيلګې په توګه د شاهد شاهدي چې يو نړيوال يا افغان سرتيري هم کېدای شي، د عدلي طب موندنې لکه د ګوتې او د چاوديدونکو موادو پاتې شوني او يا د بندي او يا يې د وسلې يا مهماتو عکس چې ويل کيږي د بندي له خوا کارول شوي او يا يې هم په ملکيت کې وو. دغه دوسيه ښايي محرم او پټ معلومات او مدارک هم ولري لکه د متحده ايالاتو استخباراتي راپور، د افغانستان نظامي او نور استخباراتي معلومات. د متحده ايالاتو چارواکو وايي چې دوی ډېره هڅه کړې چې يو زيات شمير پټ معلومات رابرسيره کړي تر څو د تخنيکي کميټې سره يې شريک کړي او دا ډاډمن کړي چې له دې معلوماتو څخه د بنديانو د قضيو په بيا کتنه کې ګټه واخستل شي. خو ځينو چارواکو په شخصي توګه داسې هم منلي چې د دولتي ادارو په داخل او منځ کې د معلوماتو د شريکولو د تناسب په هکله اختلافات موجود وو.[52] د پټو معلوماتو د شريکولو موضوع اړوند اختلافات او مقاومت شايد د هغې لوی موضوع څخه سرچينه اخلي چې د افغان امنيتي او استخباراتي چارواکو د بې باورۍ په اړه موجودي دي.[53]

نه افغان حکومت او نه هم د متحده ايالاتو حکومت غواړي چې په JCIP کې د جزايي تعقيب لپاره هغه پټ معلومات دي د بندي او يا د هغې د مدافع وکيل له خوا وکتل شي، که څه هم همدا معلومات د "کتنې بورد" په واک کې ورکول کيږي.

د جنرال فاروک د وينا مطابق، تخنيکي کميټه د وارد شويو شواهدو او مدارکو ارتباطوالي او ارزښت ته هم اهميت ورکوي تر څو معلومه کړي چې ”کافي شواهد“ شته تر څو د هغې په اساس په جزايي تعقيب اقدام وشي. هغه قضيې چې ”ضعيفه شواهد“ پکې موجود وي چې يوه جزايي صورت دعوه پرې نه شي اقامه کېدای، د کتنې بورد ته راجع کيږي، نه JCIP ته. مخکې له دې چې پروسه پيل شي، د دخپلواکۍ ټولنې بنسټ په دې پوه وه چې تقريبا 75 سلنه بنديان چې د متحده ايالاتو په DFIP کې بنديان وو[54]، د هغوی پر وړاندې د جزايي تعقيب لپاره نا کافي

---

[52] د خلاصې ټولنې د بنسټ د متحقيقينو مرکې په افغانستان او واشنګټن ډی سی کی، 2011-2012

[53] د بی باورۍ دغه فضا په بيلابيلو ساحو کې واضح ده په شمول د افغان قواو سره د هغو معلوماتو د شريکولو يا د متحده آيالاتو د وژلو/نيولو عملياتو په ساحه کې هغه اوږد په تېپه ولاړ حالت ( د لا زياتو معلوماتو لپاره د خلاصې ټولنې د بنسټ د شپنيو بريدونو په اړه راپوروونه وګورئ-مخکې ذکر شوی). تشنج همدارنګه په دې هکله هم موجود دی چې زرغون کالي په آسماني کاليو بريدونه کوي. دا هغه بريدونه دي چې د افغان ملي ځواکونو له خوا په نړيوالو ځواکونو تر سره کيږي. په 2012 کې تر اوسه 40 نړيوال ځواکونه په دارنګه پيښو کې وژل شوي دي. د لا زياتو معلوماتو لپاره “ زرغون اغوستي د آسماني اغوستو په وړاندي” بريدونه د افغان امنيت لپاره ننګونه وګورئ. NPR, August 23, 2012
.https://www.npr.org/2012/08/23/159922434/green-on-blue-attacks-challenge-afghan-security.US/
چارواکو کله کله داسې تورونه هم لګولي چې افغان امنيتي ځواکونه د ياغيانو سره دسيسې جوړوي او لاس يو کوي. د بيلګې په توګه ميالس امور وګورئ “ افغان ځواکونه او طالبان د ناټو قطارونو د لوټلو لپاره هوکړه کړې” سنډی ټايمز، د مې 20و 2012.https://milesamoore.com/2012/05/20/afghan-troops-and-taliban-in-pact-to-loot-nato-convoys/.
تورن جنرال ډينيل تيل ډيوس: “ حقيقت، دروغ او افغانستان: څرنګه نظامي مشرانو مونږ سپک کړو.” د وسله والو قواوی ژورنال..http://www.armedforcesjournal.com/2012/02/8904030/

[54] د پرانيستې ټولنې د بنياد مرکې د چارواکو سره، واشنګټن ډی سي، د 2012 کال اپريل مياشت.

شواهد موجود وه. خو ددي سره بيا هم، د وروستيو قضيو د شمير مطابق چې پروسي ته اچول شوي وي، تخنيکي کميټي 65 سلنه قضيې د جزايي تعقيب لپاره JCIP ته راجع کړي دي.[55]

د خپلواکی ټولني د بنسټ مرکي چې د يو ذيدخل چاروکي سره يې ترسره کړي دا روښانه کوي چې په عمل کې د تخنيکي کميټي له خوا هغه معيار چې په اساس يې "کافي" يا "بسونکي" شواهد موجود وي او د جزايي تعقيب لپاره يې راجع کړي، ډېر کم دي. يوي سرچينې ادعا کړي چې تخنيکي کميټي داسې ډېرې قضيې د جزايي تعقيب لپاره راجع کړي چې د يوي عادلانه محکمې لپاره يې شواهد هم کافي نه وو.[56]

د يو چارواکي د وينا مطابق، ځيني قضيې چې د جزايي تعقيب لپاره راجع کيږي "دري يا څلور پاني لري" چې کېډای شي په يوه عادي کاغذي پاکټ کې سره ځای شي چې پکې صرف د بندي پېژندګلوي شامله وي لکه د هغه نوم، د پلار نوم يې او دا دوسيې معمولا بدون د کومو شواهدو سره راځي تر څو يوه صورت دعوه پري اقامه کړای شي.[57] د ليږدول شويو بنديانو په قضيو کې نيمګړتياوي دومره جدي وي چې څارنوالان يې په JCIP کې بيرته تخنيکي کميټي ته د لازياتو معلوماتو غوښتلو لپاره ليږدوي چې دا ددي باعث کيږي چې بندي لا نور هم په توقيف کې پاتي شي او هغه همداسې بې سرنوشته وي.[58]

دا چې د ډېري راجع شويو بنديانو په هکله نيمګړي شواهد وجود لري، يوه جدي انديښنه ده او بې له شکه به د بنديانو په اړه د محاکمې منصفانه توب او د برابروالي حق اغيزمن کړي. د شواهدو نه موجوديت په متحده ايالاتو کې د بندي شويو اشخاصو په اړه يوه ډېره پخوانی موضوع ده چې د افغان حکومت د هغو هڅو مخه نيسي چې په متحده ايالاتو کې د بندي شويو اشخاصو محاکمه په سمه ډول پر مخ يوسي.[59]

په افغانستان کې د شواهدو راټولول واضح ده چې يو ستونزمن کار دي اما د شواهدو او عادلانه پروسې هغه ننګوني چې د DFIP د انتقال په اړه دي، دا ښکاره کوی چې د يو نظامي توقيفي رژيم (چې اکثره په استخباراتي، محرمو، تاويلي ما ويلي معلوماتو او داسې شواهدو باندې اتکا کوي چې په محکمه کې غير قابل قبول دي) څخه يو جزايي توقيفځاي او عدلي تعقيب ته بدلون يو ستونزمن کار دي.[60]
لکه چې پورته هم ذکر شو، تقريبا دوه پر دري برخه قضيې چې ليږدول کيږي، JCIP ته د جزايي تعقيب لپاره ځي او دا له هغي بنديانو قضيو له تناسب څخه چې متحده ايالاتو په تاريخي لحاظ JCIP ته راجع کړي، په وار وار ډېر دي.[61]

په يو وار د داسې ډېرو قضيو راتلل په JCIP کې د قضيو اندازه چې وار دمخه له قضايي تراکم سره مخامخ وه، لا نوره هم زياته کړه. دوامداره توقيف او تاخير يو لوي مشکل دي په JCIP کې، د ځينو ليږدول شويو بنديانو محکمې شايد له رسيدو څو مياشتي وروسته پيل شي خو ځيني يې بيا تر کلونو وخت نيسي.

---

[55]د اګست له 12 راهيسي، د تخنيکي کميټي له خوا د 2573 قضيو د بيا کتني له جملي څخه 1621 يي JCIP ته راجع شوی. د جنرال فاروک سره مرکه، کابل، افغانستان، د 2012 کال د اګست 13 مه.

[56]د سرچيني سره مرکه، د می 27، 2012

[57]د سرچيني سره مرکه، 27 می 2012 او 9 جون 2012.

[58]د سرچيني سره مرکه، د می 27، 2012

[59]د بنديتوب او قانونی پروسې حق تري واخستل شو" د بشر حقوق لومړی، می 2011. http://www.humanrightsfirst.com/wp-content/uploads/pdf/detained-denied-in-Afghanistan.pdf/. د جناتان هرووتذ مقاله هم وګورئ: " ښه شواهد به په افغانستان کې عدالت لا زيات کړي" هفنګټن پوسټ، اکتوبر 7، 2009.
http://www.huffingtonpost.com/jonathan-horowitz/better-evidence-will-lead b 312193.html/.

[60]د بنديتوب او قانونی پروسې حق تري واخستل شو" د بشر حقوق لومړی، می 2011. http://www.humanrightsfirst.com/wp-content/uploads/pdf/detained-denied-in-Afghanistan.pdf/. د جناتان هرووتذ مقاله هم وګورئ: " ښه شواهد به په افغانستان کې عدالت لا زيات کړي" هفنګټن پوسټ، اکتوبر 7، 2009.
http://www.huffington post.com/jonathan-horowitz/better-evidence-will-lead b 312193.html/.همدارنګه دا هم وګورئ: "اوباما ته يو خط: بې له محکمې څخه توقيف پای ته ورسوه او ګوانتانامو وتړه" د بشر حقوقو د ساتني څارونکي اداره، د جنوری 10، 2012.
http://www.hrw.org/news/2012/01/10letter-president-obama-end-detention-without-trial-and-close-guantanamo;
همدارنګه دا هم وګورئ: " په ګوانتانامو کې رښتينی عدالت نشته" د بشر حقوقو د ساتنی څارونکي اداره، د جنوری 19، 2012. http://www.hrw.org/news/2012/05/09/justice-trial/.
http://www.hrw.org/news/2012/04/19/o-real-justice-guantanamo/.

[61]د متحده آيالاتو د چارواکو سره مرکه، جنوری 2012; د متحده آيالاتو د چارواکي سره تيليفونی مرکه، می 22، 2012.

له محکمي څخه دمخه اوږد توقيف د افغانستان په عدلي سستم کې يوه ډېره جدي ستونزه ده. که څه هم بايد چې د بنديانو راجع کول عدلي او قضايي سستم ته د هغوی لپاره د عادلانه برخورد حقوق لا هم ډېر کړي خو په عمل کې ډېري بايد دوامده توقيف تير کړي. مدافع وکيل ته لاسرسي، غير عادلانه محکمه او د عادلانه برخورد څخه نوري سرغړوني هغسي دي لکه په حبس محکوم شوي کسان چې تري محکوم دي.[62]

دا چې په JCIP کې هم شته ستونزي روښانه کوي، جزايي تعقيب لپاره ارجاع کول د هغه ننګوني په اړه چې د شخړي اړونده بنديانو د حقوقو د ساتني لپاره ده، يوه ساده د حل لاره ده.

## د بياکتنې افغان بورډ : په زندان کې عادلانه چلند

هغه قضيې چې تخنيکي کميټه يې د جزايي تعقيب لپاره JCIP ته نه ليږدوي نو هغه د بيا کتني افغان هيئات ته راجع کوي تر څو دا روښانه کړي چې نوموړی کس د افغانستان د حبس د رژيم لاندي پاتي شي او کنه.[63]

اوسمهال درې د بيا کتني بوردونه په فعاليت بوخت دي (چې د A,B او C په نوم يادېږي). د بيا کتني هر بورد له دري افغان چارواکو څخه جوړ شوي دي چې د ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت عمومي رياست يو يو غړي پکې شامل وي.[64] کله چې يوه قضيه له تخنيکي کميټي څخه د بيا کتني بورد ته راجع شي، نو کتل کيږی چې ايا نوموړي بندي په هغو معيارونو برابر نه دي چې د ليږد د طرزالعمل 4.1 (د) ماده کې د دوامداره حبس غوښتنه کوي. دا تصميم "د شواهدو د قويوالي" اصل په نظر کې نيولو سره د اکثريت غړو د موافقي په اساس نيول کيږي. که د بيا کتني بورد په دې يوه شي چې يو بندي د محبوس کيدو معيارونه پوره کړي، بيا نو دوی ګوري چې ايا "د بندي د بيا اصلاح کيدو د احتمال په نظر کې نيولو سره دوامداره بنديتوب اړين دي".[65] که همداسي وي بيا نو بندي په DFIP کې بيدون له کوم الزاميت څخه بندي پاتي کيږي. که د بيا کتني بورد داسي وګڼي چې د د حبس په رژيم کې دوامداره حبس اړين نه دي، بنايي قضيه JCIP ته راجع کړي او يا دا چې داسي توصيه وکړي چې بندي دي خوشي شي.

د عادلانه برخورد په اړه کومي اندېښني چې د بيا کتني په افغان بورد کې موجودي دي د هماغو اندېښنو اينه ده چې د متحده ايالاتو د توقيفخانو د بياکتني بوردونه(DRBs) هم تري کړيږي چې انساني او نړيوال حقوق د پښنو لاندي کيږي، په دي هکله په ځانګړي توګه د بندي کيدلو لپاره د واضح اصولو نشتوالي، د شواهدو نه شتون او مدافع وکالت خدمتونو ته نه لاسرسي.[66]

*د بيا کتني افغاني بورډ له خوا د معيارونو د کاروني نه وضاحت*

داسي معيارونه چې وښايي يو بندي بايد په حبس کې واچول شي، واضح نه دي. دا چې په څلورمه برخه کې هم ذکر شول، د بنديکيدو د معيارونو په جمله کې د "غړي" او "مهم ملاتړ" په هکله لوی ابهامونه موجود دي. له لارښودونو بغير ډېر تفسير ته حاجت شته په ځانګړي توګه هغو حالاتو کې چې شواهد ډېر نه وي.

ښايي ددي په اړه لوی ابهام موجود وي چې کوم اصل د بندي کيدو لپاره اساس ونيسو.

---

" [62] ربړونه، ليږدول او د عادلانه برخورد حق نه ورکول: په افغانستان کې د شخړي اړونده بنديانو سره برخورد، " د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسون/ د خلاصی ټولنی بنسټ، د مارچ 17، 2012. http://www.soros.org/sites/default/files/conflict-related-detainees-afghanistan-20120319.pdf; د ملګرو ملتونو د مرستو ماموريت د افغانستان لپاره، د افغانستان په زندانونو کې د شخړي اړونده بنديانو سره برخورد، اکتوبر 2011.
UNAMA Detention ull-Report Eng.pdf/;"http://unama.unmissions.org/portals/UNAMA/Documents/October10%202011 خپل سری نيونه په افغانستان کې: د عمل لپاره غږ دوهم جلد، يوناما جنوری 2009. http://www.ohchr.org/documents/countries/advc/.pdf. vol 1 Unama

[63] د ليږد پروسيجر ديته د "بی طرفه بورد" نوم ورکړی او د افغانستان او متحده آيالاتو حکومتونه ورته د " د بيا کتني بی طرفه بورد" وايي.

[64] 4.1 (ج)ماده

[65] د ليږد پروسيجر 4.1(ذ) ماده

[66] د بنديانو سره د عادری برخورد حق ونه منل شو: څرنګه د متحده آيالاتو توقيفی سستم کولای شو د قانون سره برابر کړو" د بشر حقوق لومړی، می 2011. د جلينا پجک" د حبس کيدو لپاره شکلي پرنسيپونه او مهمي نقطي" او " اداری توقيف په وسله والو شخړو او د تاوتريخوالي په نورو حالتونو کې" وګوری چې د هغو حد اقل شکلی حقوقو په اړه ده چې په حبس شوی او يا د اداري توقيف لاندی کسانو لپاره انسانی او نړيوالو بشري قوانينو په نظر کې نيولي دي. http://www.icrc.org/eng/assets/files/other/irrc858pejic.pdf
د رکيل ريډ ليکنه هم ولولئ: ؛آيا د متحده آيالاتو د بيا کتني بوردونه د افغان ياغيانو په اړوند منصفانه دي؟ له ملا ترکتور څخه وپوښتئ" لاس انجلس تايمز، اکتوبر 19، 2010. http://www.hrw.org/news/2010/10/19/hidden-justice/ ديفهن ايوياتر: "عدالت بيا هم په افغانستان د امريکا په زندان کې د بنديانو لپاره غولونکی دی" هفنګټن پوسټ، فبروری 13، 2011. http://www.huffingtonpost.com/daphne-eviatar/justice-remains-elusive-f_b_822669.html.

يو لوړپوړي افغان دولتي چارواکي ويلي چي ددي لپاره چي معلومه شي يو بندي د بندي کيدو شرايط پوره کړي دي، د بيا کتني بورد به بيا هم "دا ارزيابي کړي چي دوی د کوم گروپ غړي وو، او د هغه گروپ په اړه عمومي معلومات څه دي" او دا مشخص کړي چي ځيني افغان دولت ضد مخالفي ډلي په ايډيولوژيکي لحاظ د دولت سره مخالف دي، ځيني نوري بيا دومره جدي نه دي يا دا چي د دولت مخالفي دي خو کوم عمل نه کوي.[67]"

دا معلومه نه ده چي حکومت داسي کوم متداوم او رسمي دريځ ولري چي له مخي يې خاصي ډلي خطرناکي وګڼل شي او هغوی د بندي کيدو وړ وګڼل شي. دا چي بيلابيلي ډلي اوس د دولت مخالفت کوي او همدارنګه د افغانانو فکر د دي ډلو په اړه، د بيا کتني بورد شايد په خپلو کړنو کي يو رنګ برخورد ونه کړي، او زيات احتمال ددي موجود دي چي له خود سری څخه کار واخلي.

د ليږد طرزالعمل په دي کي هم پاتي راغلي چي د شواهدو د ډولونو په هکله مشخص لارښوونه رامنځته کړي چي په اساس يې د بيا کتني بورد معلومه کړي چي څوک بايد بندي کړای شي. د جنرل فاروک د نظر مطابق، د بيا کتني بورد ښايي د متحده ايالاتو او افغان استخباراتي ادارډو د معلوماتو ترڅنګ، په لاندينيو څلورو معلوماتي سرچينو اتکا وکړي:

- د بندي شخص له سيمي څخه له قومي مشرانو او با نفوذه اشخاصو څخه معلومات
- د بندي په اړه له سيمه ايز حکومتي ارګانونو څخه معلومات
- له نورو بنديانو څخه معلومات
- " د ډيرو تعليميافته او مسلکي خلکو" اراوي څوک چي د بنديانو سره کښيني او کوښښ کوي چي هغوی په خپل برخورد کي بدلون راولي.

جنرال فاروک وايي چي د بيا کتني بورد په اغلب ګمان هيڅکله هم د بندي کس د اوسيدني د ځاي د کسانو سره مشوره او کتل نه کوي او بالاخره زيات تحقيق به ترسره نه شي. دا چي د متحده ايالاتو له خوا د بنديانو دوسيي پرته له کافي دلايلو څخه راليږدول کيږي، د بيا کتني د بورد له خوا چي کوم شواهد په نظر کي نيول کيږي هماغه به وي چي محرم دي او خپله بندي ښايي هيڅ ليدلي هم نه وي. په داسي حالاتو کي بنديانو ته دا فرصت نشته چي د خپل بنديتوب په اړه دلايل ګواښ سره مخ کړي چي نړيوال قانون يې هم غوښتنه کوي.
تر ټولو بوږنوونکي خو لا داده چي د ليږد په طرزالعمل کي او نورو اړونده لارښودونو کي داسي کومه ماده نشته چي د هغو معلوماتو په هکله وي چي د شکنجي له امله لاسته راغلي وي. د افغانستان په جزايي قوانينو کي خو دا موضوع روښانه ده خو د بيا کتني د بورد کسان بايد دا نقطي په نظر کي ونيسي تر څو د بنديانو حقوق خوندي شي.

*د بورد دبيا کتني په دوران کي زنداني ته ناکافي حقوقي مرستي برابري شوي دي*

د ليږد د طرزالعمل په اساس، زندانيان د شخصي مرستي حق لري، او که شوني وي نو حقوقي مرستي هم ورته برابري شي.[68] په عمل کي، زندانيان حق نلري چي چي خپلواک ملکي حقوقي مشاور انتخاب کړي- دوي ته يو نظامي وکيل ټاکل کيږي.[69] د جنرال فاروق په وينا، دغه محدوديت د زنداني توان د قضيي په وړاندي د ودريدو لپاره له دي امله دې چي ( موږ نه غواړو چي زموږ صنف بندي شويو معلوماتو ته دوي لاس رسی ولري)، هغه زياته کړه ( نظامي حقوقي امرين کولای شي چي دغه معلومات وګوري او باور پري کيداي شي)[70]
جنرال فاروق د بې پرې په اړه کومه انديښنه نلري،ځکه چي نظامي امرين د کار په پيل کي قسم کوي چي د زنداني ملاتړ به کوي او د حکومت ملاتړ به نه کوي. د تخنيکي کميتي يو تن غړي وويل چي ( په پيل کي د دغه پروسي په اړه د زنداني او مدافع وکيل تر منځ باور نه وه، خو اوس دغه باور ډير شوي دی.)

---

[67] د افغان حکومت له يو چارواکي سره مرکه، کابل جون 2، 2012.
[68] د ليږد پروسيجر، (f) (1)4 ماده
[69] د جنرال فاروق سره مرکه، مي، 29، 2012
[70] Id

خو د خپلواک وکيل په ځاې د نظامي وکيل کارول، د بې پرې په اړې جدي اندېښني را منځ ته کوي لکه د حقوقي استازيتوب، او همدارنګه د قانوني مشوري باندې باور او د وکيل په وړتيا چې د زنداني کيدو په وړاندې په کره ډول سره ودرېږي. د متحده ايالاتو د DRB کې د نظامي استازو کارول د خپلواکو وکيلاون په ځاې له ورته نيوکو سره مخ شوې وه، چې نوموې نظامي وکيلان نه وه توانيدلي چې د زندانيانو استازيتوب وکړي.[71]

د خپلواکي او بې پرې برسيره په دې اړه هم پوښتني را منځ ته کيږي چې يو افغان نظامي وکيل به څومره توان ولري چې د خپل زنداني څخه دفاع وکړاې شي. سره له دې چې د ليږد پروسيجر زنداني ته دا فرصت ورکوي چې د بيا کتني د بورد په وړاندې شواهد وړاندې کړي او د خپل لوري څخه شاهدان راولي، دا ښکاره نه ده چې ايا نظامي وکيلان کولاې شي چې شواهد او شاهدان را ټول کړي او که نه، او که را ټولوي يې، نو څرنګه دغه کار به ترسره کړي، د افغانستان حکومت د بګرام زندان ته د شاهدانو ليږد باوري کوي.

## د زنداني کيدو د مودې په اړه ناڅرګندتيا

د زنداني کولو د رژيم يوه لويه خلا داده چې د افغانستان حکومت لپاره کوم داسې حکم نشته چې حکومت د څومره مودې لپاره کولاې شي چې يو تن د اداري پلوه په زندان کې وساتي. لکه څرنګه چې په V کې يادونه وشوه، داسې ښکاري چې متحده ايالات غواړي د زندان د ليږد د مودې وروسته هم زندان وساتي چې د دغه مهم لامل د افغانستان د زنداني کيدو د رژيم صلاحيت يې را منځ ته کړې دې. د ليږد په طرزالعمل کې داسې ژبه کارول شوې ده چې د زنداني کيدول صلاحيت د ضميمه وي دويم پروتوکول سره تړاو ورکړل شوې دې، چې په هغه کې داسې وړانديز شوې دې چې د زنداني کولو صلاحيت يواځې د جدي امنيتي ستونزو په وخت کې ورکول شوې دې، او اعظمي کچه يې د نړيوالو قوانينو په بنسټ د جګړو پاې ته رسيدل دي. خو د ليږد طرزالعمل کې داسې هيڅ ښکاره اړيکې، چې د لازمي دلايلو او رژيم تر منځ ښودل شوې وي، نه دې ورکړل شوي، او نه داسې کوم ځانګړې حکم شته چې ښه لارښود وي او يا د جګړې د پاې ته رسيدو مهال او وخت يې پکې په ګوته کړې وي، چې څه وخت جګړه په رسمي ډول پاې ته رسيدلې ګڼل کيږي.

افغاني چارواکو د زندانيانو د ليږد د مودې په اړه مختلف ځوابونه ورکړل. جنرال فاروق او د افغان حکومت يو تن لوړ پوړې چارواکې چې په دغه پروسه کې شامل دې وايي جې زنداني پاتې کيدل کيداې شي چې د شخړې تر پايه پوري دوام ومومي. يو بل افغان چارواکي د جينوا کنوانسيون څخه يادونه وکړه چې د نارينه، ښځې او ماشوم په زندان کې پاتې کيدل د شخړې تر پايه پورې دوام موندلاې شي، خو په دې باوري وه چې دا په افغانستان کې نشي پلې کيداې. افغانستان کې 34 کاله جګړه تيره شوې ده، او څوک پوهيږي چې څومره نور به دوام ومومي؟ [72] د افغانستان حکومت کې يو بل لوړ پوړې چارواکي وويل چې اداري زندان به په زندان کې د شپږو مياشتو د تيريدو وروسته پاې ته ورسيږي، چې له هغه وروسته به نور اداري زندان نه وي، او هر څوک چې په افغانستان کې نيول شوې وې، خوشي به شي.

د دغو جدي پوښتنو په وړاندې ناڅرګنده ځوابونه تر ډېرې کچې د زنداني کيدو صلاحيت د ناوړه کاروني ويره ډيروی ، چې زندانيان به د اوږد مهال او نامعلومي مودي لپاره په زندان کې پاتې شي.

---

[71] راچيل ريد ( ايا د متحده ايالاتو د بياکتنې بورد د افغاني مظنونو زندانيانو لپاره عادلانه ده؟ ملا تراکتور پوښتي، ) LA Time اکتوبر، 19 ، 2010 http://www.hrw.org/news/2010/10/19/hidden-justice/.
همدارنګه د دافنی ايوتار وګورئ: ( په افغانستان کې د ډيرو لپاره د متحده ايالاتو زندان دعدالت نا مشخص ځاې دې) هوفينګټن پوست February 13, 2011. http://www.huffingtonpost.com/daphne-eviatar/justice-remains-elusive-f_b_822669.html/.

[72] د منبع سره مرکه، مې، 28، 2012

## د کمیسیون له لوري بیا کتنه او د متحده ایالاتو سره مشوره

د افغانستان د بیا کتني بور د زنداني د خوشي کولو په برخه کې وروستني تصمیم نشي نیولای، ځکه چې هغه زنداني چې خوشي کیږي، دوه نورو ناوړه بیا کتنو پروسو څخه تیریږي. کله چې د بیا کتني بورد د یو زنداني د خوشي کیدو سپارښتنه کوي، نو بیا دغه تصمیم باید د لوړ پوړو افغان سیاستوالو له لوري تایید شي چې دغه کمیسیون نه د زندانونو د تړون او نه د لیږد په پروسیجر کې راغلي دي. دغه تصمیم بیا د متحده ایالاتو د مشورې پورې تړلي دي، چې د افغانستان دوه اړخیزه کمیټي د بیاکتني څخه به تیریږي. او دغه کمیټه د زندانونو د تړون له مخې جوړه شوې ده.

*د خوشې کیدو لپاره د بیاکتني د بورد د سپارښتني بیا کتنه*

د کمیسیون له لوري بیا کتنه نه د زندانونو په تړون او نه د لیږد په طرزالعمل کې ذکر شوې ده. د لیږد طرزالعمل په 4.1(j) ماده کې راځي چې کله چې‌ړې د بیاکتني بورد دا وموميي چې زنداني په زندان کې د پاتې کیدول شاخصونه نه پوره کوي، د دفاع وزیر باید د زنداني د خوشي کولو امر ورکړي. خو په حقیقت کې دوي نشي کولای چې د خلاصون امر وکړي، دوي یواځې سپارښتنه کولای شي چې دغه سپارښتنه د کمیټې په تصویب او رد پورې تړاو لري. [73] د یادونې وړ ده چې د کمیسیون صلاحیت د بیا کتني صلاحیت څخه لوړ دي، د متحده ایالاتو د DRB سیستم انعکاس کوونکي دي چې یواځې د زنداني د خوشي کولو سپارښتنه کولای شي او د خوشي کولو وروستني تصمیم 435 کاري قوې قومندان او یا د هغه لوړ چارواکي DoD له لوري اخیستل کیږي.

د کمیسیون د تصمیم نیولو پروسه په بشپړه توګه سره د تایید وړ ده. دا معلومه نه ده چې کمیسیون د کومو شاخصونو په بنسټ تصمیم نیسي، او د بیا کتني کوم معیارونه پلي کوي، او د بیا کتني د بورډ سره په کومو موضوعاتو کې اختلاف لري. یو افغان چارواکي دغه پروسه د بیاکتني د بورډ دتصمیمونو بیا کتنه ګڼي چې په هغه کې زنداني باید کمیسیون ته حاضر شي او پوښتنو ته ځواب ووایي، خو زنداني نشي کولای چې د کوم کس او یا د مدافع وکیل ملاتړ له ځانه سره ولري، ځکه چې دغه کمیسیون محکمه نه ده.[74]
کله چې تري پوښتنه وشوه چې دغه کمیسیون د بیاکتني بورد سپارښتنه څرنګه تایید او یا ردوي، نو چارواکي یواځې دومره وویل ( ستره محکمه، څارنوالي (او په کمیسیون کې نور کسان) په لوړو پوستونو کې دي او دوي په هیواد کې لوړې زده کړې لري.)[75]

جنرال فاروق وویل چې کمیسیون کولای شي چې خپلې پلټنې ترسره کړي، خو غړي دیته اړتیا نلري چې د بیا کتني د بورډ له لوري د کتل شویو سندونو څخه معلومات ترلاسه کړي. خو د دفاع وزیر چې د دغه کمیسیون رییس دی، د نورو استخباراتي سرچینو سره مشوره وکړي. زنداني به په منظم ډول سره محکمې ته نه حاضریږي، د جنرال فاروق په وینا کمیسیون به د زنداني او یا د غه د کوم استازي په غیابت کې تصمیم ونیسي. په ځینې استثنایي حالاتو کې، زنداني کیداې شي چې کمیسیون ته حاضر شي- خو، زنداني به د کوم شخص او یا حقوقي مدافع له مرستي څخه برخمن نه وي. برسیره پردې، که کمیسیون د یو تن خوشي کول رد کړي، کمیسیون اړ نه دی چې د خپل تصمیم په اړه کوم دلیل ولیکي.[76]

د بګرام په زندان کې د زندانیانو خوشي کول د طالبانو سره د خبرو اترو لپاره یو ډېره ځواکمنه وسیله ګڼل کیږي. [77] د بګرام د زندان څخه د زندانیانو د لیږد په اړه د نه روښانتیا او مشکوک پراونو له امله کیدای شي چې ډېرې

---

[73] ( زندانیان باید د افغانستان اسلامي جمهوریت د دفاع وزارت په امر سره خوشي شي، ( تاکید پرې شوې دی)، که چېږي بورد دا وموميي چې زنداني په زندان کې د پاتې کیدو شاخصونه نه پوره کوي، لکه څرنګه چې په (h) پراګراف کې راغلي دي، او د افغانستان او متحده ایالاتو د تړون په بنسټ)، د تړون مرجع داسې بریښي چې د زندانونو د تړون د نهمي مادې سره چې افغانستان اړ دی د لیږدول شویو زندانیانو د خوشي کولو وړاندې د متحده ایالاتو سره مشوره وکړي او د امریکایانو هر ډول سپارښتني ته د هر زنداني د پاتې کیدو په اړه مثبت ځواب ووایي.
[74] د افغانستان د حکومت د چارواکو سره مرکه،28 مې، 2012
[75]د افغانستان د حکومت د چارواکو سره مرکه، 28 مې، 2012
[76] د جنرال فاروق سره مرکه، 29 مې، 2012
[77] ( متحده ایالات د سولي د ژمني لپاره لوړ پوړې زندانیان خوشي کوي. ) CBSNews. CBS Interactive, 07 May 2012. Web. 30 May 2012. <http://www.cbsnews.com/8301-502223_162-57428814/u.s-reportedly-releasing-high-level-detainees-in-exchange-for-pledges-of-peace/>.;

سياسي مداخلي را منځ ته کړي. خو د کميسيون په کار کې د هر ډول اصولو او يا د روڼتيا نشتوالي کيداې شي چې د دغه سيستم تر ټولو زيانمنونکې برخه وي، چې په دې ډول په خپله خوښه تصميمونه او د سياسي سوداګرۍ بازار به برابر کړي.

د پارلمان غړې، شکريه بارکزې، خبرداری ورکړی دی چې کـه چيرې 3,000 زندانيان د سياسي ګټې لپاره وکارول شي، نو هغه کسان چې په پروسه کې داخليږي د ټولو حقونو څخه به محروم شي.[78] د بيا کتنې بورډ، يا د ليرد په ټوله پروسه کې د څارنې او يا د شکايت د ميکانيزم را منځ ته کول به د زنداني کولو د رژيم د بيا کتنې او خوشي کولو د پروسې په ښه والي او تماميت کې اغيزمن ثابت شي.

*د خلاصون څخه وړاندې د متحده ايالاتو سره مشوره اړينه ده*

د ټولو ليږدول شويو زندانيانو د بيا کتنې وروستې پړاو چې د افغانستان حکومت يې غواړې خوشي کړي، کـه د بيا کتنې د بورډ له لياري وي اويا د پروان د عدليې مرکز له لوري، د افغانستان او متحده ايالاتو ګډه کميټه يې د غور لاندې نيسي. دغه مشوره د زندانونو د تړون په اساس ترسره کيږي، چې په هغه کې ذکر شوې دي چې دمتحده ايالاتو سره بايد د هر زنداني د خوشي کيدو وړاندې مشوره وشي.

د زندانونو د تړون په نهمه ماده کې راغلي دي: ( افغانستان دا تاييدوي چې د متحده ايالاتو سره به د ټولو ليږدول شويو زندانيانو د خوشي کولو وړاندې، د هغه زندانيانو په ګډون چې محاکمه شوي نه وي، مشوره کوي، او که چيرې متحده ايالات په خپله ارزونه کې داسې و انګيرې چې په زندان کې پاتې کيدل اړين دي، څو چې زنداني دترهګرې له فعاليتونو څخه ليرې وساتل شي، نو افغانستان به دغه ډول ارزونه غوره وګڼي.)

غوره به يې وګڼې ، څه معنې لري، د متحده ايالاتو ارزونه- او د متحده ايالاتو واک چې يو زنداني تر کومې مودې پورې په زندان کې وساتي ښکاره نه دې. د متحده ايالاتو چارواکو د مشورې پروسه يو دوه اړخيزه کليدي ميکانيزم ګڼلي دې، او په دې يې تاکيد کړې دې چې متحده ايالات د هر زنداني د وړانديز شوې خوشي کيدو په اړه د رد او تصويب بشپړ صلاحيت لري.[79] جنرال فاروق له دغه شاخصي سره مخالف دې، او وايي چې دغه پروسه د همکارې او د هوکړې په بنسټ ولاړه ده.

د افغانستان د حکومت په وينا، د 2012 د اګست د 14 پورې دغه ګډې کميټې تر اوسه 24 قضيې چې د خوشي کيدو سپارښتنه يې شوې وه، څيړلي دي. له دغو قضيو څخه يې 18 تصويب شوي دي او شپږ قضيې د افغانستان ملي امنيت رياست ته د نورو څيړنو لپاره راجع شوې دي.

### 7. د دريم هيواد د زنداني شويو اتباعو نا څرګند برخليک

متحده ايالات اوس مهال له 50 زيات غير افغاني زندانيان، يا د دريم هيواد اتباع د بګرام په زندان کې زنداني کړي دي.[80] دغه زندانيان د څو بيلو هيوادونو څخه دي، سره له دې چې ډېره شميره يې پاکستانيان دي.[81] پداسې حال کې چې ډېر يې په افغانستان کې نيول شوي دي، خو داسې باور دې، چې يو شمير يې په نورو هيوادونو کې

---

( افغانستان: کرزې او طالبان د سولې د پټو خبرو په اړه انديښمن دي) .The Daily Beast. Newsweek/Daily Beast, 10 Jan. 2012. Web. 30 Jan. 2012 <http://www.thedailybeast.com/articles/2012/01/10/afghanistan-karzai-and-the-taliban-in-a-tizzy-over-news-of-secret-peace-talks.html>.

[78] د شکريه بارکزې سره مرکهس، د پارلمان غړې، کابل، د جون 3، 2012

[79] د متحده ايالاتو د چارواکو سره د شاليد په اړه معلومات، مارچ، 2012. همدارنګه ( زندانيان افغانانو ته سپارل کيږي، خو د امريکايانو څخه به ليرې نه وي) نيويارک تايمز، مې31 ، 2012 http://www.nytimes.com/2012/05/31/world/asia/in-afghanistan-as-bagram-detainees-are-transferred-united-states-keeps-its-grip.html?pagewanted=all/.

80 د ملي امنيت سلاکار ډاکټر رنګني دادفر سپنتا، کابل افغانستان، د سپټمبر دوهمه، 2012

[81] د چارواکو سره مرکه، اپريل، 2012، واشنګټن، او منبع، 2012، 15 د اګست، کابل، او لاهور، پاکستان، 2012، اګست21 .

نیول شوي دي او بیا د متحده ایالاتو د استخباراتي مرکزي اداري له لوري بګرام ته راوړل شوي دي. د دریم هیواد اتباع له ډېرو کلونو راهیسي د بګرام په زندان کي ساتل شوي دي.[82]

د دریم هیواد اتباع یا TCN د زندانونو په تړون کي نه دي حل شوي. سره له دې، چي په تړون کي ذکر شوي دي چي متحده ایالات به په افغانستان کي زندانونه د افغانانو په واک کي ورکړي. داسي برېښي چي متحده ایالات به د TCN مسؤلیت د بګرام په زندان کي د 2012، د سپتمبر له نهمي وروسته هم دوام ورکړي، هغه نیته چي د لیرد د وروستی ورځي په ډول ټاکل شوي ده، ددې په پام کي نیولو سره چي د دریم هېواد د زندانیانو د لیږدولو ، هېواد ته د ستنولو او بیا تنظیم په برخه کي ځومره لږ پرمختګ شوی دی. د ملي امنیت سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا وايي، چي افغان حکومت امریکا ته (( د منځنی مودې لپاره)) دوه لارې وړاندې کړي دي. امریکایي ځواکونه کولی شي ، هغوی افغان چاراواکو ته وسپاري او موږ به له هغوی سره د افغانستان د حقوقي سیستم له مخي چلند وکړو. دوهمه لاره دا ده، چي هغوی له افغانستان نه بهر یوسي. خو موږ خپلو ایتلافیانو او دوستانو ته ددې اجازه نه شو ورکولی ، چي دلته دې زندان ولري.[83]

سره له دې چي د اړونده هیوادونه چي پاکستان او یمن پکي شامل دي، دغه کار یوه ستونزمنه سیاسي پروسه ده، په ځانګړې ډول سره که چیرې متحده ایالات وغواړي چي خپل اړونده مسؤلیتونه پوره کړي( که چیرې زندانیان د ځوروني له خطر سره مخ کیږي، نو بیا یې هغو هیوادونو ته ستانه نه کړئ، چي هلته پر دوی د باور کولو زمینه مساعده وي). د متحده ایالاتو د DRB له لوري د ځیني TCN زندانیانو د خوشي کیدو سپارښتنه له دې امله شوي ده چي د زندان لپاره یې کوم لامل نشته او یا دوي نور کوم ګواښ نه دي- خو بیا هم د متحده ایالاتو په زندان کي دي، او د بیرته ستنیدو او بیا میشت کیدو تړون ته چي د متحده ایالاتو او نورو هیوادونو تر منځ ترسره شي، په انتظار دي.[84]

متحده ایالات دعوه کوي چي دوي خبرو اترو ته دوام ورکړي دي او د کوربه هیواد سره د زندانیانو د ښه چلند او امنیت د تضمین په اړه د باور تر لاسه کول غواړي.[85] متحده ایالات باید د افغانستان حکومت رضایت هم تر لاسه کړي څو چي دغه زندانیانو ته د خروج ویزه او د بیا ستنیدو اجازه ورکړي.

د پرانیستي ټولني بنیاد ته دا جوته شوې ده چي متحده ایالات او نور هیوادونه لکه پاکستان دخبرو اترو او په دې اړه د هوکړې په برخه کي لږ پرمختګ کړې دی، څو چي روښانه پالیسي را منځ ته کړي، چي د زندانیانو د امنیت د تضمین او د ښه چلند د باروي کولو لپاره اړین دي. پداسي حال کي چي ډېر پاکستاني اتباع تر اوسه پورې د خپل تابعیت د تایید په انتظار دي، د بګرام په زندان کي د څو کلونو زنداني کیدو وروسته، دا چوته کیږي چي د TCN قضیي به نور څو کلونه دوام وکړي.[86]

سرا بلال د پاکستان د عدالت د پروژې مشره وایي ( پاکستان او متحده ایالاتو څو کلونه وخت درلود چي دغه قضیي حل کړي- خو بیا هم دغه وګړي په زندانونو کي پاتي دي، چي تر اوسه پورې ډېرې اساسي ستونزې نه دي حل شوي). نوموړې زیاتوي (زندانیان او د هغوي کورني د ځیني پرمختګونو ته سترګي په لار دي، لکه د سپارلو پروسه، چي دوې یې د خلاصون یوه لیاره ګني- خو حقیقت ډېر پیچلي دی. کیداي شي چي ننګوني وي، خو د ډېرې مودې وروسته، د متحده ایالاتو او پاکستان حکومتونه باید یو روښانه پلان او پالیسي جوړې کړي څو

[82] (د متحده ایالاتو په زندانونو کې د غیرې افغاني زندانیانو د بیرته ستنیدو اداري ته یوه کتنه.) واشنګتن پوست.
واشنګتن پوست، 25 جنوري، 2012، د 2012، 30 اګست.
http://www.washingtonpost.com/world/national-security/administration-looking-into-repatriating-non-afghan-detainees-at-us-run-prison/2012/01/23/gIQAzsvsLQ_story.html/...

83 د ملي امنیت له سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتیا سره مرکه ، کابل – افغانستان ، د سپټمبر دریمه ، 2012

[84] ( هغه زندانیان چي په بګرام کي تر اوسه خوشي شوې نه دي) دان، 2012، اپریل، 6
http://dawn.com/2011/04/06/detainees-okd-for-release-still-held-at-bagram/.

[85] د متحده ایالاتو د چاروواکو سره مرکه، همدارنګه واشنګتن پوست، 2012 جنوري 12 وګورئ
http://www.washingtonpost.com/world/national-security/administration-looking-into-repatriating-non-afghan-detainees-at-us-run-prison/2012/01/23/gIQAzsvsLQ_story.html/.

[86] د سارا بلال سره مرکه، JPP، لاهور، پاکستان، 2012، اګست، 21، د بیلابیلو حکومتي چاروواکو سره مرکهې. د څرګندولو تریبیون، مي 28، <2012
http://tribune.com.pk/story/385319/lhc-directs-mofa-to-confirm-nationalities-of-pakistani-detainees-in-bagram/.

چې دغه قضيې له ځنډه پرته حل کړي او زنداניان او د هغوي کورنۍ د هغوي د وضعيت او د راتلونکې په اړه خبر کړي.[87]

دغه ناحل شوې ستونزې، يواځې د اوسني TCN نفوس پورې نه دي محدودې شوې، د امريکا متحده ايالتونه ښايي په راتلونکو عملياتو کې هم د دريم هېواد د وګړو نيولو زنداني کولو ته دوام ورکړي . داسې ښکاري، چې متحده ايالات افغان حکومت ته د ځينې با ارزښته کسانو له سپارلو سره لېوالتيا نه لري، او د هغو ی خپلو هېوادونو يا د امريکا اړوند نورو زندانونو ته هم د مهمو ځېړو له سپارلو سره علاقه نه لري، د لېږدولو پر مهال ترې خطر راولاړېږي، ددې په پام کې نيولو سره د ګوانتانامو زندان له سياسي پلوه ځومره نانډرۍ راولاړې کړي دي، دا کار ددې احتمال زياتوي، چې متحده ايالتونه به د سپتمبر په نهمه نېټيټه د سپارلو لـه پوره کيدو وروسته هم د پروان زندان په يوه برخه خپل کنټرول ته دوام ورکړي. د پروان زندان سپارل او د امريکا جاري توقيفي عمليات کېداى شي د امريکا د قانون له مخې د زندانيانو د حقونو په اړه تطبيق شي، په ځانګړې توګه هغه زندانيان چې د پروان په زندان کې اچول شوي دي، د ګوانتانامو د زندانيانو په څېر ددفاع او د محکمې پر وړاندې د حاضرېدو په برخه کې ورته حقونه لري او کولی شي ديوې امريکايي محکمې پر وړاندې له ځانه دفاع وکړي.[88]

## د متحده ايالاتو د زندانيانو د نظارت د پروګرام نشتون

د ناتو غړو هيوادونو کې متحده ايالات يواځېنی هيواد دی چ په افغانستان کې د افغاني ځواکونو په واک کې د زندانيانو د سپارلو وروسته د زندانيانو سره د چلند او د ساتلو دوضعيت په اړه د څارنې سيستم نلري.[89] خو د بګرام په زندان کې کيداې شي چې د زندانيانو سره ناوړه چلند خطر په پرتليزه توګه کم وي، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون، او خپلواکه ټولنې بنسټ، او همدارنګه ملګرو ملتونو په لوړه کچه تيروتنې او ناوړه چلند په افغاني زندانونو کې د ټول هيواد دننه مستند کړي دي.[90]

د موندنو او د زندانيانو د ناوړه چلند جديت ته په کتو سره، په ځانګړې توګه د امنيت اړونده زندانيان چې د افغانانو په زندان کې دي او يا د بګرام څخه د افغاني زندان په واک کې ورکړل شوي دي، د ناوړه چلند لـه خطر سره مخ دي، په ځانګړې ډول سره کله چې د متحده ايالاتو شتون کم شي. د هغه زندانيانو د ځورونې او د ناوړه چلند خطر چې د پروان د عدلي مرکز تـه استول شوي دي، د محکمې وروسته او بيا د ولايت زندان تـه د استولو وروسته، ډېرېږي. متحده ايالاتو قانوني مسؤليت دې خو زندانيان داسې هېوادونو تـه چې فکر کيږي، ښايي هلته لـه ځورولو يا خطر سره مخ کيږي، و نـه ليږي.[91] د ليږدول شويو زندانيانو د نظارت او په ښـه کولو د ميکانيزم

---

[87] د خپلواکې ټولنې بنسټ مرکه د سارا بلال سره، jpp، لاهور2012 ، اګست، 21

[88] د بګرام په زندان کې د بنديانو د کورنيو د غړيو د ادعا په ځواب کې، د D.C سرکټ لپاره د درخواست امريکايي محکمې داسې شرايط وضع کړي دي، چې د بګرام په زندان کې د امريکا لخوا نيول شوي بنديان ، د کيوبا په ګوانتانامو کې د امريکا لخوا د نيولو شويو بنديانو خلاف ،له دې حق نه برخمن ندي، څو د محکمې پر وړاندې له ځانه دفاع وکړي. که څه هم دا چې د 2012 کال د سپتمبر له نهمې نيټې وروسته به هم د بګرام په زندان کې اچول کيږي، خو ديوې نامعلومې مودې لپاره د TCN بنديانو د توقيف دوام او همدارنګه د سپارلو پروسه او JCIP ته د زيات شمېر بنديانو سپارل کولی شي دغه موقف بدل کړي. د امريکا يوې سيمه ييزې محکمې په دې وروستيو کې هغو زندانيانو لپاره ، چې د بګرام په زندان کې دي، د محکمې پر وړاندې له ځانه ددفاع کولو د حق د پراختيا حکم کړی دی، ظاهراً د بګرام زندان د سپارلو او د زندانونو په اړه د هوکړه ليک په رڼا کې.
; http://www.cadc.uscourts.gov/internet/opinions.nsf/0471E6B4F16492908525780700 7002E8/$file/09-5265-1245894.pdf
http://www.lawfareblog.com/2012/06/has-judge-john-bates-been-listening-to-npr/; http://www.lawfareblog.com/2012/07/read-out-from-motions-hearing-in-al-maqaleh-and-hamidullah/

[89] د نړيوال قانون له مخې هيوادونه بايد زندانيان هغه چارواکو ته ونه ليږي، چيرې چې د ځورونې له خطر سره مخ کيږي. څارنه يوه ښه وسيله ده خو د مخنيوې لپاره کافي نه ده. د څارنې د کارونې او ښه اغيز لپاره، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون او د پرانيستې ټولنې بنيادوګورئ، ( ځورونه، ليږد او د اړونده پروسو څخه مخنيوې: په افغانستان کې د شخړو له امله د زندانيانو سره چلند، مارچ 2012
http://www.soros.org/reports/torture-transfers-and-denial-due-process-treatment-conflict-related-detainees-afghanistan/.

[90] د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون او د پرانيستې ټولنې بنيادوګورئ، ibid. يوناما، د افغانانو په واک کې د شخړو له امله زندانيانو سره چلند، اکتوبر، 2011
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/October10_%202011_UNAMA_Detention_Full-Report_ENG.pdf/.

[91] د ځورنې په وړاندې تړون دريمه ماده دولتونه مکلف کوي چې يو ( تن له يو دولت څخه بل دولت ته چې د ځورولو ګواښ شتون ولري) وانه ستوي. د ځورولو، او نورو ظالمانه، غير انساني او يا د سپکاوي چلند او يا سزاو په وړاندې تړون ( د ځورولو په وړاندې تړون يا CAT)، د 1984، د دسمبر په 10 (د 1363 د ليندۍ 19) تصويب شوې دی. G.A. res. 39/46, annex, 39 U.N. GAOR Supp. (No. 51) at 197, U.N. Doc. A/39/51 (1984), entered into force June 26, 1987 (5 Saratan 1366), art. 3
http://www2.ohchr.org/english/law/cat.htm..) د زور پرته اصل چې د نړيوالو قوانينو عمومي اصل او د نړيوال د بشر د حقونو او د نړيوال بشري حقونو بنسټ جوړوي.

پرته، متحده ایالات به ونشي کړای څو چې خپل مسؤلیتونه د زندانیانو د مصؤنیت په برخه کې پوره کړ، او داسې میکانیزمونه معرفي کړي چې د ناوړه چلند څخه مخنیوی وشي. دغه ډول ځارنه به په دې کې مرسته وکړي چې د TCN لیږد اړونده هیوادونو ته تضمین کړي چې د ځوروني له خطر سره نه مخ کیږي. خو، دا باید په یاد ولرو چې د لیږد وروسته ځارنه کیدای شي چې یو ډېره مرستندویه وسیله وي، خو دا په دې معنی نه ده چې د دولت مکلفیتونه یې پوره کړي دي. ځارنه نشي کولای چې دولت د لیږد وروسته ځورولو له مسؤلیت او د نړیوالو ژمنو څخه خلاص کړي.

د متحده ایالاتو چارواکي وایي چې د ځارنې یو سیستم د جوړولو لپاره هڅې وکړې چې د بګرام زندان به هم پکې شامل شي، خو د افغانستان حکومت د خبرو وړتیا کمښت ددې لامل شو، چې تر اوسه پورې کوم تړون ته ونه رسیږو. د افغانستان حکومت تر اوسه نه دې توانیدلي چې د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون سره د هوکړه لیک په اړه خبرې نهایي کړي، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون قانوني دنده ده چې د زندانونو د حالاتو څخه ځارنه وکړي، او په هیواد کې د بشر د حقونو د ځارنې تایید وکړي وي. څرنګه چې سپارنه اوس مهال د بشپړیدو په حال کې ده، د دغه ډول پروګرام لپاره هیلې- چې د زندانیانو د ځورولو او ناوړه چلند بیلګې په پراخه کچه په امنیتي سیستم کې لیدل کیږي- په چټکې سره بندیږي.

## 8. سپارښتنې

د خپلواکې ټولنې بنسټ د افغان او د امریکا حکومتونو ته لاندې سپارښتنې کوي.

### افغان دولت ته:

- توقیف ته د زندانیان لیږدول وځنډوي او یقیني کړي، ټول زندانونه د هغو زندانونو په ګډون، چې د امریکا لخوا سپارل کیږي، د افغانستان له قانون او اساسي قانون سره مطابقت لري.
- د ملي امنیت د توقیف پالیسي مرور کړئ ، څو معلومه کړئ ، چې ایا د ترهګرئ پر ضد قوانین نافذ دي او درناوی ورته کیږي او دا چې ایا توقیف ته اړتیا شده . په دې مرور کې د امنیتي وزیرانو، ستړې محکمې، د عدلیې وزیر ، د اساسي قانون په پلي کیدو د ځار د خپلواک کمیسیون ، د پارلمان د غړي، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون او د زندانونو په اړه د کاري ګروپ نظریات هم شامل کړای شوي دي.

- که چیرته د افغان دولت دغه مشوري تعقیب کړي، نو افغان حکومت به دا مشخص کړي، چې د امنیتي دلایلو له امله زنداني کول ډېر اړین دي، نو باید دا یقیني کړي چې د زندان رژیم د افغانستان د اساسي قانون سره سم جوړ شوی دی. او همدارنګه د دوهم څېرکې سره سم او هم د جرمونو د قانون او د جرمونو د لنډمحال کړنلارې قانون په شمول د نړیوالو او کورنیو قوانینو سره سم جوړ شوی دی. یقیني کړئ، چې دا د هغو قوانینو له مخې جوړ شو

---

See Chahal v. United Kingdom, App. No. 70/1995/576/662, 30 Eur. Ct. H.R. ¶ 74 (1996); Queen in re: Maya Evans v. Sec'y of State for Defence, [2010] EWHC 1445 (Q.B.) (U.K.); Sir Elihu Lauterpacht and Daniel Bethlehem,

(د زور پرته اصل لید لورې او محتواياتو اصول: نظرونه، in Erika Feller, Volker Turk and Frances Nicholson (eds.), په نړیوالو قوانینو کې د مهاجرینو مصؤنیت. دملګرو ملتونو لپاره د مهاجرینو عالي کمیشنري، د نړیوال مصؤنیت په اړه نړیواله مشوره، کمبریج، برطانیه، د کمبریج پوهنتون رسنې (2003)

www.unhcr.org/publ/PUBL/419c75ce4.pdf; Nigel Rodley, د نړیوالو قوانینو په بنسټ له زندانیانو سره چلند کول، اکسفورد: د اکسفورډ پوهنتون خپرونې (2009)، p. 172; Cordula Drogue (د زندانیانو لیږد: قانوني کاري چوکاټ، د زور پرته اصل او اوسني ننګونې) د سره صلیب نړیواله بیا کتنه، Vol. 90 No. 871، سپتمبر 2008 ( میزان 1387)، ایمان الله چیرا ګیلر، (( د کور په شان کوم ځای نشته: د خلکو د لیږد په برخه کې د دولت مسؤلیت. د سره صلیب نړیواله بیا کتنه، Vol. 90, No. 871، سپتمبر 2008 ( وږې، 1387)http://www.icrc.org/eng/assets/files/other/irrc-871-gillard.pdf; /

د بشر د حقونو او نړیوال عدالت مرکز هم وګورې، د نیویارک د حقوقو ښوونځې، د لیږد لپاره اصغري معیارونه: د ترهګرۍ په وړاندې د نړیوالو قوانینو په بنسټ پلي کړي. ، جون 2009 ( جوزا 1388)http://www.chrgj.org/projects/docs/legaladvisory.pdf

ی دی، چې د پارلمان لخوا تصویب شوي دي، کوم چې د توقیف د اداره کولو په برخه کې یو جامع داخلي قانوني چوکاټ رامنځته کوي او باید هر کال باید د پارلمان لخوا تجدید شي.


- که چیرته پارلمان کوم قانون تصویب کړي ،چې هغه کسان زنداني کړي چې د امریکایي زندانونو څخه لیږدول کیږي، دولت باید ددې ډاډ ورکړي چې دغه زندانیان چې د امریکا د پروان د زندان څخه لیږدول کیږي په ځانګړي ځای کې وساتي اونه دا چې هغه کسانو سره یو ځای چې د افغان ځواکونو پواسطه نیول شوي وي. پارلمان یو قواعد او قانون پاس کړي چې د بین الدول هوکړه لیکونه لغوه کړي او غیر نشر شوي جمهوري ریاست فرمان د پروان د زندان په اړه.
- په قانون کې باید د زنداني کولو قانوني معیار په اړه خاص لارښود شامل شي. او د بیا کتنې د بورډ پروسه او تصمیم نیونه په ډاګه کړي.
- دا یقیني کړئ چې هغه زندانیان چې په بند محکوم شوي وي چې په افغانستان کې د مصئونیت مناسب پروسي او په شمول د دوریي بیا کتنه( لږ تر لږه په شپږو میاشتو کې یو وار)، او دوی ته ددې فرصت ورکړي شي چې د دوی د زنداني کیدلو په وړاندی ودریږي. او ددوی د خوښې وکیل ته او همدارنګه هغه شواهدو ته چې ددوی په وړاندی کارول شوي وي لاسرسي ولري.
- د وړ وکیلانو، څارونوالانو، قاضیانو او د محکمې د ادارچیانو شمیر باید زیات شي تر څو هغه قضیې چې یو زیات شمیر یې د پروان په قضایي مرکز کې د جنایي څارنوالي څیړنې لپاره په لاره وي.
- دا یقیني کړئ چې خپلواکه څاورنکي په ځانګړي ډول د افغانستان د بشر حقونو خپلواکه کمیسیون په ته پوره اجازه ورکړي شي او ازادانه ډول سره په افغانستان کې دپروان زندان په شمول د ټولو زندانیانو ته لاسرسي ولري. سملاسي باید د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون د څارونکو او مسولینو سره د پروان زندان د افغانستان تر کنټرول لاندې برخې ته د لاسرسي په اړه په یو ټرون خبرې وشي.
- د امریکا حکومت هغې اندیښنې ارزیابي کړي او هوارې یې کړي، چې ښایي زندانیان د سیاسي او مالي لاملونو له امله وتښتي او یا خوشي کړای شي.
- د توقیف له سیستم نه بهر د ملي امنیت د توقیف ستونزې هوارې کړي، لکه له اړوندو پروسو څخه پراخې سرغړونې او ددې اړتیا ، چې ټول هغه قوانین او د جمهوري ریاست فرامین عام شي، کوم چې د ملي امنیت د عمومي ریاست قانوني صلاحیت په کې روشانه شوی دی. یقیني کړي، چې مدافع وکیلان او د بشري حقونو څارونکي د ملي امنیت زندانونو او زندانیانو ته د توقیف په هر پړاو کې لاسرسی لري.

**د امریکا حکومت ته:**

- دا ډاډ تر لاسه کړي چې هغه پالیسي ګانې او پروسیجرونه چې افغان زندانونو ته د زندانیانو د لیږد په اړه پرې هوکړه شوی ده باید د افغانستان د قوانینو او نورو کورنیو قوانینو سره سم وي. په عام ډول د افغان دولت څخه وغواړي چې د زنداني کیدنې رژیم د قانونیت د ډاډمنتیا په اړه اړین ګامونونه واخلي.
- په بیړني ډول د افغان دولت سره په ګډه یو د حل لار پیدا کړي او افغانان ددې څخه خبر کړي چې هغه زندانیان چې د متحده ایالاتو له لوري د مارچ په نهمه نیټنیټه د زندانونو په اړه د هوکړه لیک له لاسلیک وروسته نیول شوي دي، د زندانیانو به وسپارل شي.
- دا باید روښانه شي چې د متحده ایالاتو حکومت به تر کوم وخته پورې د دریم هیواد اتباعو لپاره په افغانستان کې زندانونو ولري؟ اوکوم نړیوال او کورني قوانین د دریم هیواد اتباعو باندې پلي کیږي او دا ډاډ تر لاسه کړي چې د دریم هیواد اتباع د دوره یي بیا کتنې څخه برخمن دي او دوی ته ددې فرصت ورکړي شي چې د دوی د زنداني کیدلو په وړاندی ودریږي.

- ټولو TCN لپاره خپلواکه حقوقي مشوروته لاس رسی باوري کړئ، په ځانګړې توګه د بګرام په زندان کې د دريم هيواد اتباعو ته چې برخليک يې معلوم نه دې. د TCN زنداني او د هغه کورنې ته د قضيې په اړه معلومات ورکړئ، چې دغه معلومات کيداې شي چې دوې سره په حقوقي برخه کې هم مرسته وکړي.
- دا باوري کړي چې هغه زندانيان چې هيواد ته بيرته ليږدول کيږي، د ناوړه چلند او ځورونې سره نه مخ کيږي، او ددوي بيرته ستنيدنه په سم ډول سره څارل کيږي. دا باوري کړئ چې د افغانستان حکومت سره مناسب مالي او تخنيکي مرستې ترسره شوي دي، څو چې په پروان کې د عدلې مرکز وړتيا لوړه شي او د بګرام زندان د ليږد له امله د قضيو د ډېروالي په وړاندې ځواب ووايي.
- د افغانستان له دولت سره د متحده ايالاتو له واک څخه د افغان واک ته د بګرام د زندانيانو د ليږد د څارني تړون نهايې کړئ. دا باورې کړې چې د افغانستان حکومت د زندانيانو د تړون له مخې د خپلواکه څارونه لاس رسی د بګرام زندان ته برابروي، په ځانګړي توګه د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کميسيون سره د يو تړون په لاسليک کولو په مرسته د څارنې لپاره لاس رسې، د هغه زندانيانو په ګډون چې د متحده ايالاتو له لوري نيول کيږي او د افغانانو په کنترول کي دي.
- د هغه شواهدو بيا کتنه ترسره کړي چې متحده ايالات وګړي پري نيسي او زنداني کوي يې، او همدارنګه د شواهدو کيفيت او کميت بيا کتنه وګړي، څو چې افغاني چارواکي د نوموړو په زندان کې پاتې کيدلو او يا د افغانســــــتان د قـــــانون پـــــه چوکـــــات کـــــې د محاکمـــــه کيـــــدو تصـــــميم ونيســـــي.

## د پروان زندان لیږد:
**شمیر یي د تر اګست۱۲، ۲۰۱۲**



# داصطلاحاتو ټولیزه

| | |
|---|---|
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقونو خپلواکه کمیسیون |
| A | د ۱۹۷۷ میلادي کال د جینیوا کنوانسیون دوهم اضافي تړون په کوم کې چې د حقونو کچه او خوندیتوب په کورني شخړو کې او هم د هغه وګړو حقونه چې خپلواکي ورته نه ورکول کیږي. |
| Bilateral Commi | دوه اړخیزه کمیټه، دا د امریکا او افغانستان کمیټه ده چې د زندانونو تړون پلی کیدنه څاري او د هغه لیږدول شوي زندانیانو دوسیې څیړي چې افغان دولت ته یې د خوشي کیدلو سپارښتنه شوي وي. |
| CIA | مرکزي استخباراتي اداره ( د امریکا استخبارتي اداره) |
| DRB | د زندان د بیا کتني بورډ ( دا د امریکا فوځي ډله ده چې د زندانیانو د بند ته بیا کتنه کوي) |
| DFIP | د پروان زندان: د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت پورې، دافغانستان د پروان ولایت په بګرام ولسواکي کې د امریکا زندان و. |
| ICOIC | د اساسي قانون پر پلي کیدوکیدو د څار خپلواک کمیسیون |
| Transition Proced | ( دامریکا د متحده ایالتونود بګرام زندان څخه دافغانستان اسلامي جمهوریت پل چرخي زندان ته د لیږد پروسه او تنظیم)— یو د وزارتونو تر منځ هوکړه ده چې د د زنداني کولوافغاني پروسه جوړوي. |
| ISAF | نړیوال سوله ساتونکي ځواکونه |
| J | په پروان کي قضایي مرکز: د جرمونو محکمه ده چې د ملي امنیت د قضیوسره سروکار لري چې د پروان زندان ته نږدی وي. |
| Detentions M | د افغانستان د اسلامي جمهوریت او امریکا متحده ایالاتو تر منځ تړون د افغانستان په قلمرو کې د افغان زندانونو د مسولیت انتقال په اړه |
| NATO | د شمالي انتلانتیک غړي هیوادونه |
| NDS | ملي امنیت ریاست ( د افغانستان استخباراتي اداره) |
| MoD | د ملي دفاع وزارت |
| MoI | د کورنیوچارو وزارت |
| Review Bo | د افغانستان دولت اداري ارګان دی چې د بندیانو دوسیو ته بیا کتنه کوي ترڅو دا معلومه کړي چې ایا دغه کسان خوشي شي، جنایي څارنوالی ته وروپیژندل شي او یا هم په زندان کې وساتل شي. |
| Special Operations M | د افغانستان په خاوره کي خاصو عملیاتو په اړه د افغانستان اسلامي جمهوریت او امریکا د متحده ایالاتو تر منځ تړون |
| Task Force 435 | بین الاداراتي ګډ کاري ځواک ٤٣٥ |
| TC | د دریم هیواد اتباع ( ددې څخه مراد هغه زندانیان دي چې په افغانستان کې نیول شوي وي خود یو بل هیواد اتباع وي) |

Technical Commi تخینکي کمیټه: دافغانستان دولت هغه ارګان دی چې د هر لیږدول شوي زنداني دوسیو ته بیا کتنه کوي چې د امریکا زندان چې په پروان کې دی څخه لیږدول شوي وي، ترڅو دا معلومه کړي چې ایا دغه کسان خوشې شي، جنایي څارنوالی ته وروپیژندل شي او یا هم په زندان کې وساتل شي.